د افغانستان اسلامي امارت

# رسمي جريده

د امتياز خاوند :دعدليې وزارت

دچاپ نېټه :

شنبه د۱۴۲۱هـ.ق كال درجب المرجب

د مياشتې لسمه نېټه

پرله پسې نمبر ۷۹۴

ISLAMIC EMARATE
OF
AFGHANISTAN
MINISTRY OF JUSTICE
YEAR: 2000
ISSUE NO: 794

دچاپ شمېر(۵۰۰۰) ټوكه

ددې ګڼې بيه (۴۰۰۰۰) افغانۍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ اللّٰهُ تَبارَکَ وَتَعالیٰ !

اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِی الْاَمْرِ مِنْكُمْ

ترجمه: اطاعت وکړئ دالله ﷻ او اطاعت وکړئ د رسول ﷺ او داولی الامر چی ستاسی څخه وی.

# دمطلبونو فهرست


| گڼه | موضوع | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | دښاروالیو قانون | ۱۶-۱ |
| ۲ | د ښاري خدمتونو دمحصول قانون | ۲۷-۱۷ |
| ۳ | دځمکې د استملاک قانون | ۴۰-۲۸ |
| ۴ | داحتکار د بندولو قانون | ۵۷-۴۱ |
| ۵ | دښارونو د ښېرازۍ او تنظیف مقرره | ۶۷-۵۸ |
| ۶ | دصفائي دمحصول مقرره | ۷۳-۶۸ |
| ۷ | د اطرافي مسافروړونکو نقلیه واسطو دتم ځای دمحصول مقرره | ۸۹-۷۴ |
| ۸ | دښاروالی د ملکیتونو دکرائي د تثبیت مقرره | ۹۸-۹۰ |
| ۹ | دکابل ښار د (۲۵) کلنې طرحې (پلان) د ښاري پروژو دمېشته کېدو (اسکان ) د چارو مقرره | ۱۱۳-۹۹ |
| ۱۰ | دکابل ښار دعمومي طرحې (ماسترپلان) د تطبیق مقرره | ۱۲۹-۱۱۴ |
| ۱۱ | دکابل په ښار کې داستوګنې ، تجارتي او لوړ پوړیزو امارتي ځمکو د نمرو د وېشلو او پلورلو د څرنګوالي مقرره | ۱۴۲-۱۳۰ |
| ۱۲ | دافغانستان اسلامي امارت د مامورینو د قانون د(۵۹) مادې د تعلیق په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان | ۱۴۳ |
| ۱۳ | په املاکو پورې اړوند د ۱۴۲۰/۴/۱۳ هـ ق نېټې د (۲۶) ګڼې فرمان د (۲۴) مادې د درېمې فقرې د تعدیل په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان | ۱۴۴ |
| ۱۴ | دمعتمدینو د تضمین د پول د مقررې په ځینو موادو کې د تعدیل په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان | ۱۴۸-۱۴۵ |

# رسمي جريده

**دښاروالیو اړوندو تقنيني سندونو دانفاذ په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان**

ګڼه: ۲۹

نېټه :۱۴۲۱/۶/۲۵هـ.ق

لومړۍ ماده :

دافغانستان اسلامي امارت درياست الوزراء دتائيد پر اساس دښاروالیو اړوند لاندیني تقنيني سندونه تو شيح کوم :

۱-دښاروالیوقـــانون پـــه(۵) فصلونواو(۲۵)مادوکې .

۲-دښاري خدمتونودمحصول قانون په (۵) فصلونواو(۱۸)مادوکې .

۳-دځمکې داستملاک قـــانون پـــه(۳) فصلونواو(۲۳)مادوکې .

۴-داحتکاردبندولوقـــانون پـــه(۴) فصلونواو(۲۳)مادوکې .

۵-دښارونودښېرازۍ اوتنظيـــف مقـــرره په(۵)فصلونواو(۲۷)مادوکې .

۶-دصفائي دمحصـــول مقـــرره پـــه(۲) فصلونواو(۱۲)مادوکې .

۷-داطرافي مسافروړونکونقليه واسطودتم

**فرمان مقام امارت اسلامي افغانستان درمورد انفاذ اسناد تقنيني مربوط شاروالیها**

شماره :۲۹

تاريخ: ۱۴۲۱/۶/۲۵هـ.ق

مادۀ اول :

به اساس تائيد رياست الـــوزراء امـــارت اسلامي افغانستان، اسناد تقنيـــــي ذيـــل مربوط شاروالیها را توشيح ميدارم :

۱- قانون شاروالیها به داخل (۵)فصـــل و(۲۵)ماده .

۲- قانون محصول خدمات شـــهري بـــه داخل (۵)فصل و(۱۸) ماده .

۳- قانون استملاک زمين به داخـــل (۳) فصل و(۲۳) ماده .

۴- قانون منع احتکار به داخل (۴)فصـــل و(۲۳) ماده .

۵-مقررۀ تنظيف وسرسبزي شـــهرها بـــه داخل (۵) فصل و(۲۷) ماده .

۶- مقررۀ محصول صفائي به داخـــل (۲) فصل و(۱۲) ماده .

۷- مقررۀ محصول توقفگاه وسائط نقليۀ

# رسمي جریده

ځای دمحصول مقرره په (۴) فصلونواو (۳۳)مادو کې .

۸-دښاروالی دملکیتونودکرائي دتثبیت مقرره په (۴)فصلونواو (۲۱)مادو کې .

۹-دکابل ښارد(۲۵) کلني طرحې(پلان) دښاري پروژودمېشته کېدو(اسکان) دچارومقرره په(۳)فصلونواو (۱۹) مادو کې.

۱۰- دکابل ښاردعمومي طرحې (ماسترپلان) دتطبیق مقرره په (۱۱) فصلونواو (۴۲)مادو کې .

۱۱- دکابل په ښارکې داستو ګنې تجارتي او لوړ پوړیزو امارتي ځمکو دنمرو دوېشلواو پلورلو د ځرنګوالي مقرره په (۴) فصلونو او (۲۶) مادوکې.

دوه یمه ماده :

ددې فرمان په لومړې ماده کې درج شوي تقنیني سندونه دتوشیح له نېټې نه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپاره شي .

والسلام

داسلام خادم

امیرالمؤمنین ملامحمد عمر(مجاهد )

مسافر بري اطرافي به داخل (۴) فصل و(۳۳) ماده .

۸- مقررهٔ تثبیت کرایه ملکیت هاي شاروالي به داخل (۴)فصل و (۲۱) مادة.

۹-مقررهٔ امور اسکان پروژه هاي شهري طرح (پلان) ۲۵ سالهٔ شهر کابل به داخل (۳)فصل و (۱۹)ماده.

۱۰- مقررهٔ تطبیق طرح عمومي (ماستر پلان) شهر کابل به داخل(۱۱) فصل و(۴۲) ماده .

۱۱- مقررهٔ طرزتوزیع وفروش نمرات زمین رهایشي، تجارتي وبلند منزل امارتي درشهر کابل به داخل (۴) فصل و(۲۶) ماده.

مادهٔ دوم:

اسناد تقنیني مندرج مادهٔ اول این فرمان ازتاریخ توشیح نافذ ودرجریدهٔ رسمي نشر ګردد.

والسلام

خادم اسلام

امیرالمؤمنین ملامحمد عمر(مجاهد)

# د ښاروالیو قانون

## د ښاروالیو قانون

### لومړی فصل

### عمومي حکمونه

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د ښاروالیو او اړوندو ناحیو د فعالیت د ډول د تنظیم په مقصد وضع شوی دی :

**دوهمه ماده :**

ښاروالی عامه حقوقي حکمي شخصیت دی چې د دغه قانون او د نورو تقنیني سندونو له حکمونو سره سم دورسپارل شویو دندو له لاری د ښارونو د اوسیدونکو د عمومي اړتیاوو د تأمینولو په خاطر فعالیت کوی .

**دریمه ماده :**

(۱) د کابل ښاروالی د امارت د تشکیل جزء دی او خپلی دندی اوواکونه ددغه قانون د حکمونو په حدودوکی سرته رسوی .

## قانون شاروالی ها

### فصل اول

### احکام عمومی

**مادهٔ اول :**

این قانون به منظور تنظیم طرز فعالیت شاروالی ها و نواحی مربوط وضع گردیده است .

**مادهٔ دوم :**

شاروالی شخصیت حقوقی حکمی عامه است که به خاطر تأمین نیازمندی های عمومی ساکنان شهر ها از طریق وظائف محوله مطابق احکام این قانون و سائر اسناد تقنینی فعالیت می نماید .

**مادهٔ سوم :**

(۱) شاروالی کابل جزء تشکیل امارت بوده وظائف وصلاحیت های خودرا در حدود احکام این قانون اعمال می نماید .

(۲) د ولايتونو ښاروالۍ د کورنيو چارو وزارت تر اثر لاندې د محلي اداري د تشکيل د جزء په توګه خپل فعاليتونه د دغه قانون د حکمونو په حدودو کې ترسره کوي.

څلورمه ماده:

ښاروالۍ کولای شي د واکمنو مراجعو له لارې د اسلامي شريعت له حکمونو سره سم د بهرنيو هيوادونو له ښاروالیو سره د همکارۍ اړيکې ټينګې کړي.

پنځمه ماده:

(۱) ښاروالۍ ګاني د خپل فعاليت په ساحه کې ښاري عمومي طرح (ماستر پلان) لري.

(۲) د عمومي پلان (ماستر پلان) او د دغې د تعديلونو طرح د مهندسي او پلان جوړونې د مرکزي اداري او په هغې پورې د اړوندو نماينده ګيو لخوا د ښاروالیو په مرسته او مشوره طرح کيږي او د وزيرانو د شورئ له تائيد او د افغانستان اسلامي امارت د مقام له منظورۍ وروسته د ښاروالۍ لخوا پلي کيږي.

(۲) شاروالی های ولايات به حيث جزء تشکيل اداره محلی تحت اثر وزارت امور داخله در حدود احکام اين قانون فعاليت های خود را انجام ميدهند.

مادهٔ چهارم:

شاروالی ها ميتوانند از طريق مراجع ذيصلاح با سائر شاروالی های کشورهای خارجی مطابق احکام شريعت اسلامی رابطه همکاری برقرار نمايند.

ماده پنجم:

(۱) شاروالیها در ساحه فعاليت خود دارای طرح عمومی (ماستر پلان) شهری ميباشند.

(۲) طرح پلان عمومی (ماستر پلان) و تعديلات آن توسط ادارهٔ مرکزی مهندسی و پلان سازی شهری و نماينده گی های مربوط آن به همکاری و مشورهٔ شاروالیها صورت گرفته، بعد از تائيد شورای وزيران و منظوری مقام امارت اسلامی افغانستان توسط شاروالی تطبيق ميگردد.



(۳) د ماستر پلان له تطبيق څخه نظارت کول د ماستر پلان د طرح کوونکي اداري او اړوندې ښاروالۍ په غاړه دی.

شپږمه ماده:

کابل ښاروال د امارت مقام لخوا د قانون له حکمونو سره سم ټاکل کيږي.

## دوهم فصل

## تشکيل

اوومه ماده:

ښاروالۍ د سيمه ايزو اداري واحدونو (ولايتونو او ولسواليو) په مرکزونو کې د لاندې شرائطو له په پام کې نيولو سره جوړيږي:

۱. د اداري واحدونو په مرکزونو کې چې پنځه زره تنه استوګنه ولري.

۲. د دغه اداري واحد په مرکز کې د ښاري ماستر پلان د پلي کېدو امکان موجود وي.

(۳) نظارت (کنترول) از تطبيق ماستر پلان به عهدهٔ ادارهٔ طرح کنندهٔ ماستر پلان و شاروالی مربوط ميباشد.

ماده ششم:

شاروال کابل از طرف مقام امارت طبق احکام قانون تعيين ميگردد.

## فصل دوم

## تشکيل

مادهٔ هفتم:

شاروالیها در مرکز واحد های ادارهٔ محلی (ولايت وولسوالی) با در نظر داشت شرائط ذيل تاسيس ميگردد:

۱. در مرکز واحد های اداری ايکه پنج هزار نفر سکونت داشته باشد.

۲. امکان تطبيق ماستر پلان شهری در مرکز آن واحد اداری موجود باشد.

**اتمه ماده :**

(۱) د کابل ښاروالی ، د ښاروال مرستیال یا مرستیالانو ،رئیسانو، اداری شورئ ، مرکزی څانگو او دناحیو د آمرانو لرونکی ده چی د قانون له حکمونو سره سم تاکل کیږی.

(۲) د ښاروالی اداری شورئ له ښاروال (درئیس په توگه) مرستیالانو او د څانگو له رئیسانو څخه جوړه ده چی د ښاروال په وړاندیز او د وزیرانوشورئ په منظوری تاکل کیږی .

**نهمه ماده :**

نور ښاروالان د منظور شوی تشکیل سره سم د قانون د حکمونو مطابق تاکل کیږی او اجراآت کوی .

دریم فصل

مالی چاری

**لسمه ماده :**

دښاروالي تشکیل اوبودجه دښاروال لخوا ترتیب او اداري شورئ ئي تائید وي او

**مادهٔ هشتم :**

(۱) شاروالی کابل دارای شاروال معاون یا معاونین ، رؤسا ، شورای اداری و شعبات مرکزی و آمرین نواحی میباشد که طبق احکام قانون تعیین میگردند .

(۲) شورای اداری شاروالی متشکل از شاروال ( به حیث رئیس) معاونین و روسای ادارات بوده که به پیشنهاد شاروال و منظوری شورای وزیران تعیین میگردد .

**مادهٔ نهم :**

سائر شاروالها مطابق تشکیل منظورشده طبق احکام قانون تعیین و اجراآت می نمایند .

فصل سوم

امور مالی

**مادهٔ دهم :**

تشکیل و بودجهٔ شاروالی از طرف شاروال ترتیب گردیده شورای اداری



دقانون له حکمونوسره سم،دمالیي وزارت له ارزیابي وروسته دامارت په بودجه‌کي منعکس اودپړاوونودتیرولوپه غرض‌دوزیرانوشوريٌ‌ته وړاندي کیږي.

**یوولسمه ماده :**

د ښاروالیو بودجه له دوو برخو عادي او پرمختیائي (انکشافي) څخه جوړه او لګښتونه ئي له تحصیل شویو عوائدو څخه په لاندي توگه تمویلیږي:

۱ـ عادي بودجه د ښاروالي له (۴۵) فیصده ثابت عائد څخه تمویل اودنه امکان په صورت کي له پاتي (۵۵) فیصده ثابتي او غیر ثابتي او په بانک کي د ښاروالي له شتمني (دارائي) څخه تمویلیږي .

۲ـ انکشافي بودجه د ښاروالي د ثابت او غیر ثابت (۵۵) فیصده پاتي عائد څخه او په بانک کي دښاروالي له موجودي شتمني (دارائي)څخه تمویلیږي.

**په استثنائي حالاتوکي چي دپرمختیائي پلان تطبیق د ښاروالي له مالي وجوهوڅخه میسر نه وي،د امارت دپرمختیائي بودجي له لاري مرسته کیږي.**

آنرا تائید و طبق احکام قانون بعد از ارزیابي وزارت مالیه در بودجهٔ امارت منعکس و غرض طی مراحل به شوراي وزیران تقدیم میگردد.

**مادهٔ یازدهم :**

بودجهٔ شاروالی ها از دوبخش عادي و انکشافي متشکل بوده و مصارف آن از عوائد تحصیل شده قرار ذیل تمویل میگردد:

۱ـ بودجهٔ عادي از (۴۵) فیصد عائد ثابت شاروالي تمویل و در صورت عدم امکان از متباقي (۵۵) فیصد عائد ثابت و غیر ثابت به موافقهٔ وزارت مالیه جبران میگردد.

۲ـبودجه انکشافي ازمتباقي (۵۵) فیصدعائدثابت وغیرثابت و دارائي موجود شاروالی دربانک تمویل میشود.

**درحالات استثنائی که تطبیق پلان انکشافی ازوجوه مالي شاروالی میسر نباشد از طریق بودجهٔ انکشافی امارت مساعدت صورت مي گیرد .**

**دوولسمه ماده :**

(۱) د ښاروالي عوائد پخپله په ښاروالي پوري اړه لري،خپل عادي لګښتونه د لاس ته راغلو عوائدودپه پام کي نيولو سره،له منظور شوي بودجې سره عيار وي.

(۲) دښاروالي دټولو منابعو عوائددهغوي په مخصوص حساب کي بانک تـه‌تحوليږي.

**دیارلسمه ماده :**

ښاروالي تـه دیـوي اداري يـادودانيزي (ساختماني)پروژي دليږديدو په صورت کـي د هغي بودجه اوتخصيص هم ليږدول کيږي.

**څوارلسمه ماده :**

دبيړني اړتياپه حالاتو کي په بانک کـي د ښاروالي دسپماامانتي پيسي دداداري‌شوري په تصويب دمالي وزارت پـه موافقه او دوزيرانو شورې په تائيد،دنافذه قوانينو د حکمونو مطابق مصرف کيداي شي.

**پنځلسمه ماده :**

که چيرى دښاروالي عوائد د دووپـر لـه پسي کلونو لپاره د هغـي د عادي بودجي لګښتونه پوره نکړي ،موضوع دداداري شورې له تصويب اودمالیي

**مادهٔ دوازدهم :**

(۱)عوائد شاروالی مربوط خودش بوده مصارف عادي خودرابادر نظر داشت عوائد حاصله به بودجهٔ منظور شده عيار ميسازد.

(۲) عوائد کُلیه منابع شاروالي ها به حساب مخصوص آن تحويل بانک مي گردد.

**مادهٔ سیزدهم :**

درصورت انتقال یکی از پروژه هاي اداري ياساختماني به شاروالی،تخصيص و بودجهٔ آن نیز انتقال مي يابد.

**مادهٔ چهاردهم :**

د رحالات ضرورت عاجل پول امانت ذخیرهٔ شاروالی دربانک بـه تصويب شوراي اداری شاروالی ، موافقه وزارت ماليه وتائيد شواري وزيران مطابق احکام قوانين نافذه مصرف شده ميتواند.

**مادهٔ پانزدهم :**

هرگاه عوائد شاروالی مصارف بودجـهٔ عادي آنرا براي دوسال متواتر تکافو ننمايد، موضوع بعد از تصويب شوراى اداری و نظروزارت ماليه به مقام امارت



وزارت له نظروروسته د امارت مقام تـه پیشنهاد کیږي.

خلورم فصل

دندی او واکونه

**شپاړسمه ماده:**

ښاروالي او ناحيي هره يوه په خپله برخه کي د لاندي دندو او واکونو لرونکي دي.

۱-دښاريانودژوندانه دآسانتياوودتامين لپاره‌چي په اړونده ساحه کي ژوندکوي دتدبيرونو نيول.

۲-داړوندومراجعوله لاري دڅاګانو کاريزونو،ډنډونواودڅښاک داوبو د مخزنونودجوړولو،ساتني اوڅارني لپاره د تدبيرونو نيول.

۳- دښارونواوناحيودسمسورتيادساتني او جوړوني اودشنوساحودپراختيا،داړوندو سيمودپاکوالي اونظافت دتامين اودژوندانه دچاپيريال د ساتني لپاره دتدبيرونو نيول.

۴- په ممکنو پلاني ساحوکي د خصوصي پانګي اچوني د جلبولو له لاري د واټونو دبدني روزني د ډګرونو . عمومي تشنابونو ، حمامونو ، منډه ئي ګانو

پیشنهاد میگردد.

فصل چهارم

وظائف وصلاحيت ها

**مادهٔ شانزدهم :**

شاروالی هاونواحی هریک دربخش خود داراي وظائف وصلاحيتهای ذيل ميباشند:

۱-اتخاذتدابيرجهت تامين تسهيلات معيشتی شهريان که درساحهٔ مربوطه سکونت‌دارند.

۲- اتخاذ تدابير جهت اعمار وحفظ و مراقبت چاه ها ، کاريزها ، حوض ها و مخازن آب آشاميدنی از طريق مراجع مربوطه.

۳-اتخاذتدابيرجهت حفظ وايجاد سرسبزي شهر هاونواحی وتوسعه ساحات سبز،تامين نظافت وپاکی محلات مربوطه وحفظ محيط زيست.

۴- اتخاذ تدابير جهت احداث و اعمار جاده ها . میدانهای تربیت بدنی تشنابهای عمومی،حمام ها ،مندوی ها مارکيت ها و مراکز فرهنگی ومدنی از

مارکیټونو او دفرهنګي او مدني مرکزونو دجوړولو او ودانولو لپاره دتدبیرونو نیول.

۵- له مقرري سره سم د اماکنو د بیوټاکنه.

٦- له مقرری سره سم د ښاروالي د ملکیتونو د کرائي تثبیتول.

۷- د اړوندو ادارو په مرسته د حمامونو مطعم (رستورانونو)، هوټلونو میلمستونونو، سماوارونو . د لمبلو دډنډونو . سالونونو او د خوراکي موادو دنورو پلورونکو د نظافت د ساتنې او څارنې لپاره د تدبیرونو نیول .

۸- د ناروغیو د خپریدو د مخنیوی او د ژوندانه د چاپیریال په ساتنې پوری د اړوندو تدبیرونو په پلی کولو کې له روغتیائي موسسو سره د همکارۍ د تأمینولو لپاره د تدبیرونو نیول .

۹- له اړوندی مقرری سره سم داستوګنې د کورونو او تجارتي ساحو د جوړولو لپاره د ځمکې د نمرو دویش په هکله د تدبیرونو نیول .

**۱۰- د استملاک د قانون له حکمونو سره سم د ځمکو استملاک کول .**

طریق جلب سرمایه ګذاری خصوصی درساحات ممکنهٔ پلانی .

۵- قیمت ګذاری اماکن طبق مقرره.

٦- تثبیت کرایهٔ ملکیت های شاروالی طبق مقرره .

۷- اتخاذ تدابیرجهت مراقبت از نظافت حمام ها،مطعم (رستورانتها)،هوتلها،مهمان خانه ها سماوارها ، حوض های آب بازی سالون ها وسائر فروشنده ګان مواد خوراکه به همکاری ادارات مربوطه .

۸- اتخاذ تدابیر جهت تأمین همکاری با مؤسسات صحی در تطبیق تدابیر مربوط به جلوګیری از شیوع امراض و حفظ محیط زیست .

۹- اتخاذ تدابیر در مورد توزیع نمرات زمین جهت اعمار منازل مسکونی و ساحات تجارتی طبق مقررهٔ مربوطه .

**۱۰- استملاک اراضی مطابق به احکام قانون استملاک .**



۱۱- داستوګنې دمرکزونودجوړولو او ودانولو،دسړکونو،کوڅواوداستوګنې دسیمودساتنې اوڅارنې په کارکې دونډې اخیستنې لپاره دتدبیرونونیول .

۱۲- داړوندی اداری له خوا د ښاری حمل اونقل دواسطو د سالمې ودې لپاره د تدبیرونو نیول .

۱۳-دخوراکي موادوپه برابرولو او ویش کې دمرستې اود معیشتي خدمتونو دښه والي لپاره دتدبیرونو نیول .

۱۴- د بیو او د اندازه کولو دوسائلو څارنه (کنترول)اوپه اړونده ساحه کې د متریک سیستم تنظیمول او عامول .

۱۵- په اسلامی روحیې سره دبدنې روزنې او ورزش دپرمختیا په کار کې دمرستي لپاره دتدبیرونو نیول .

۱٦-دتنظیف او سمسورتیادفعالیت اودښاری خدمتونودښورو ګټوروفعالیتونو په ترسره کولوکې د خلکودخپلې خوښې مرستې‌جلبول .

۱۱- اتخاذ تدابیر جهت سهم ګیری درکار احداث و اعمار مراکز مسکونی،حفظ ومراقبت سرکها،کوچه هاومحلات مسکونی.

۱۲- اتخاذ تدابیر جهت رشد سالم وسائط حمل ونقل شهری توسط ادارهٔ مربوطه .

۱۳- اتخاذ تدابیر جهت مساعدت در تهیه و توزیع مواد غذائی و بهبود خدمات معیشتی .

۱۴- مراقبت (کنترول) قیم ووسائل اندازه ګیری ، تنظیم و تعمیم سیستم متریک در ساحهٔ مربوطه .

۱۵- اتخاذ تدابیر جهت مساعدت در امر انکشاف ورزش و تربیت بدنی با روحیهٔ اسلامی .

۱٦- جلب همکاری داوطلبانهٔ مردم در اجرای فعالیت تنظیفی سرسبزی وسائر فعالیت های سودمند خدمات شهری .

۱۷- د اړونـدو اداروهمکـاری پـه جلبولـو سـره د تـاریخی او فرهنـگی آثارواو آبداتوپه ساتنه ، څارنه او ترمیـم کي دمرستي لپاره دتدبیرنو نیـول.

۱۸- د احصـائیوی ارقامواودنفوسـو داحوال(دیموگرافي)پـه راټولولـو کـی دمرستی په غرض دتدبـیرونونیول .

۱۹- د قانون له حکمونو سره سم د ښاری خدمتونو د محصول تحصیلول .

۲۰- په اړونده سـاحه کـی د اسـلامی موازینو له په نظـر کـی نیولـو سـره د اړوندوادارو پـه واسـطه دبیسـوادی پرخلاف دمبارزی په کـارکی د اغـیزمنی همکاری،دعمومـی اوفرهنـگی تعلیمـاتو د سـطحی دلوړولو،خلکوتـه دمسـلکی زده کړی ،دټولنیزو خدمتونـود شـبکو او دعمومی اومسـلکی تعلیمـاتودښوونځیواو کتابتونونودپرمختیالپاره دتدبیرونو نیـول .

۲۱- ددغه قانون د حکمونو له پـه پـام کی نیولو سره د لائحو تصویبـول .

۲۲-دتراثرلاندی اداروادڅانـگو لارښوونـه .

۱۷- اتخاذ تدابیر جـهت مسـاعدت در حفظ و مراقبت و ترمیـم آثـار و آبدات تاریخی و فرهنـگی بـا جلـب همکاری ادارات مربوطـه .

۱۸- اتخاذ تدابیر مبنی بـر مسـاعدت در جمـع آوری ارقـام احصـائیوی و احوال نفوس ( دیموگرافـی ) .

۱۹- تحصیـل محصـول خدمـات شهری مطابق احکام قـانون .

۲۰- اتخاذ تدابـیر جـهت همکـاری موثر در امر مبـارزه علیـه بیسـوادی بالا بردن سطح تعلیمـات عمومـی و فرهنگی ، آمـوزش مسـلکی مـردم انکشـاف شـبکه هـای خدمـات اجتماعی ،مدارس تعلمیات عمومـی و مسلکی و کتابخانهادر ساحهٔ مربوطـه بـه وسـیلهٔ ادارهٔ ذیربـط بادر نظرداشت موازین اسـلامی .

۲۱- تصویـب لوائـح بـا در نظـر داشت احکام این قـانون .

۲۲- رهبری ادارات و شعبات تحت اثـر.



۲۳- داړونـد ښاردخدمتونـو پـه اړه دغونډو بلنه اوجـوړول .

۲۴-دبودجوي پلان دکلنیوعوائـد و پـلان اولگښتونودپلان دتطبیقولوسـمبالول او پـه لگښتونوکی دسپماپه مقصددتدبـیرونونیول.

۲۵- د اداری شورئ د پریکړو د اجـراء کولو څخه نظـارت(کنترول).

۲۶-دښارپه حوزه کی دترافیکـی تأسیسـاتو دودانیوپه هکله دنظر څرگنـدول .

۲۷- د مالونو د حلالولـو د ځای ټاکـل او د قصـابیو دروغتیـائي چـارو ښه تنظیمول او دهغو نظارت کـول .

۲۸- دشـریعت دحکمونومطـابق نرخنامي ویشـل .

۲۹- دشرطنامو،ژمن لیکونو(تعـهد نـامو) قراردادونواودښاروالی دملکیتونود اجـاری څیړنـه.

۳۰- دښارونوپه دننه کی دعامـه ویـالواو لښتیوجوړول ،ترمیمول او پـاکول .

۳۱- دمراجعینودمنلو تنظیمول اوپـه خپـل وخت اوپـه عادلانـه تـوگه دښاریـانو دشکایتونوحل اوفصل کول اوپـه واک

۲۳- دعـوت و تدویـر جلسـات در رابطه به خدمات شهر مربوطـه .

۲۴-سازماندهی تطبیق پلان بودجـوی پلان عوائدومصارف سـالانه واتخـاذ تدابیرجهت صرفه جوئی درمصـارف.

۲۵-نظـارت (کنـترول)،از اجـرای تصامیم شـورای اداری .

۲۶- ابرازنظردرمورد سـاختمان هـای تأسیسات ترافیکی درحوزهٔ شـهر .

۲۷- تثبیت محل ذبح و تنظیـم بـهتر امـور صحـی قصـابی هـا و نظـارت از آن .

۲۸- توزیع نرخنامـه مطـابق احکـام شـریعت .

۲۹-بررسی شرطنامه ها،تعهد نامه هـا قراردادها واجارهٔ ملکیت های شـاروالی.

۳۰- اعمار،ترمیم وصاف کاری جوی - ها وجویچه های عامه درداخل شهر ها .

۳۱- تنظیم پذیرش مراجعـین وحـل و فصل به موقـع و عادلانـهٔ شـکایات شـهریان و نظـارت بـر اجـراآت

کی پرشاملواجراآتواوتصميمونونظارت کول.

۳۲-داړوندومراجعوپه همکاری په سیمه کی دټولنیزواو اقتصادی لومړنیو اوبیړنیوارتیاووپه له منځه وړلوکی مرسته.

۳۳- د مړو د ښخولو د سیمو (حضیرو) تثبیتول.

۳۴- د سری میاشتی په همکاری په وړیا توګه د مجهول الهویه او بی وارثو مړو دتکفین او ښخولو د مدرکونو د سمبالتیا لپاره د تدبیرونو نیول.

۳۵- د فنی هیئت د نظرپه اساس دویجاړیدو په حال کی ودانیو دړنګولو په هکله دتصمیم نیول.

۳٦- د ښاروالي په نماینده ګي دمرستی، هبی او اعانی منل او په دفترونوکی د هغو ثبتول.

۳۷- د اړوندی حوزی دامنیتی موظفینو په مرسته د په خپل سر ودانیو دجوړولو مخنیوی.

۳۸- د ښار اصنافو ته د صنفی جوازلیکونو ورکول.

وتصامیم داخل صلاحیت.

۳۲-مساعدت در رفع نیازهای اولیه وعاجل اجتماعی واقتصادی‌در محل به همکاری مراجع مربوطه.

۳۳- تثبیت محلات دفن اموات (قبرستان).

۳۴- اتخاذ تدابیر جهت سازماندهی و تدارک تکفین و تدفین اموات مجهول الهویه ولاوارث به صورت مجانی به همکاری سره میاشت.

۳۵- اتخاذ تصمیم مبنی بر تخریب عمارات نزدیک به انهدام باساس نظر هیئت فنی.

۳٦- قبول کمک، هبه و اعانه به نمایندګی از شاروالی و ثبت آن در دفاتر.

۳۷-جلوګیری ازساختمانهای خودسر به همکاری موظفین امنیتی حوزهٔ مربوط.

۳۸- اعطای جوازنامهٔ صنفی برای اصناف شهر.



۳۹-دبهرنیومؤسسوخدماتی کارګرانو ته دکاردجوازلیکونو ورکول.

۴۰- د اړوندو څانګو په مرسته دازدواج، زیږیدنو، مړینو او نقل مکان د باوری رپوټونو راټولول او ثبتول او اړوندو مراجعوته د هغو سپارل.

۴۱- په ټینګه د نرخنامو تطبیقول.

۴۲- د قانونیت او ټولنیز نظم په ټینګښت،د امنیت په تأمینولو او د ټولنی په سوکالی کی مرسته.

۴۳- د سیمی داوسیدونکو د قانونی ګټونه په دفاع کي مرسته کول.

۴۴- د ټولنی په جوړولو او د اسلامی واکمنی په ټینګښت کی هر اړخیزه مرسته کول.

پنځم فصل

وروستنی حکمونه.

اووه لسمه ماده:

هغه مؤسسی، اداري، د چارو مسئولین او ښاریان چی د ښاروالی او یا د ناحیی په اړونده ساحه کی دی

۳۹-اعطای جوازنامهٔ کار برای کارګران خدماتی مؤسسات خارجی.

۴۰- جمع آوری و ثبت ګزارش موثق ازدواج،تولدات، وفیات و نقل مکان به همکاری ادارات ذیربط و ارائه آن به مراجع مربوطه.

۴۱- تطبیق جدی نرخنامه.

۴۲- مساعدت در تحکیم قانونیت تأمین امنیت، نظم اجتماعی و آرامی جامعه.

۴۳- مساعدت در دفاع از منافع قانونی ساکنان محل.

۴۴- همکاری همه جانبه در اعمار جامعه و تحکیم حاکمیت اسلامی.

فصل پنجم

احکام نهائی

مادهٔ هفد هم:

موسسات،ادارات، مسؤلان امور و شهر یانیکه در ساحهٔ مربوطهٔ شاروالی یاناحیه قراردارند،مکلف به

دښاروالی د اداری شورئ په واک کی د شاملو پریکړو په اجراء کولو مکلف دی .

**اتلسمه ماده :** .

دښارونواودسیمو دنومونو بدلون د ښاروالی په وړاندیزدوزیرانوشورئ په تائید او دامارت مقام په منظوری صورت مومي.

**نولسمه ماده :**

ښاروالی کولی شی هغو اصنافو او کسب ګروته چی ښه اسلامی چال چلند ولری او د ښاریانو په وړاندی خپلی وجیبی په ښه توګه ترسره کوی رضائیت لیک ورکړی .

**شلمه ماده :**

د پولیسو ، معارف،ښاري حمل اونقل (ترانسپورټ)، اوبو رسولو، دبرېښنا دانرژی ، ښارجوړولو او کورجوړولو اداری او نوری اړوندی اداری مکلفی دی‌چی‌دښار دماسترپلان‌او دنورو عام المنفعه خدمتونودپلی کولوپاره

اجرای تصامیم شورای اداری شاروالی در مسائل شامل صلاحیت شان میباشد .

**مادهٔ هجد هم :**

تبدیل اسم شهر ها و مناطق بر طبق پیشنهاد شاروالی ،تائید شو رائ وزیران ومنظوری مقام امارت صورت میگیرد .

**مادهٔ نزدهم :**

شاروالی میتواند،اصناف و پیشه ورانیکه دارای روش نیک اسلامی بوده و وجائب خودرا در برابر همشهریان به نحو احسن انجام میدهند ،رضائیت نامه اعطانماید .

**مادهٔ بیستم :**

ادارات پولیس ، معارف، حمل ونقل( ترانسپورت) شهری، آبرسانی انرژی برق ، شهر سازی و خانه سازی و سائر ادارات ذیربط مکلف اند،جهت تطبیق ماستر پلان شهرو سائر خدمات عام المنفعه



له اړوندي ښاروالی سره مرسته وکړی او د هغی د پلانونو د پلی کولو زمینه برابره کړی .

**یوویشتمه ماده :**

د اصنافو استازی د ښاروال او داړوندو اصنافو په موافقه او مفاهمی سره ټاکل کیږی .

**دوه ویشتمه ماده :**

د بودجی د تطبیق او د هغی‌د نظارت واک په ښاروال پوری اړه لری .

**درویشتمه ماده :**

ښاروال کولی شی خپل واک مرستیالانوته ولیږدوی .

**څلور ویشتمه ماده :**

دولسوالیو ښاروالان او د ناحیی آمرین هر یو په خپله اړونده ساحه کی کلنی عوائد اټکل کوی او دبودجی د برابرولو لپاره ئی اړوندي مرکزی ښاروالی ته لیږی .

**پنځه ویشتمه ماده :**

دغه قانون د توشیح له نیتی نه نافذ او په رسمي جریده کی دی خپور شی

با شاروالی مربوطه همکاری نموده زمینهٔ تطبیق پلان های آنرا مساعد سازد .

**مادهٔ بیست ویکم :**

نمایندهٔ اصناف با مفاهمه و موافقهٔ شاروال و اصناف مربوطه تعیین میگردد .

**مادهٔ بیست‌ودوم :**

صلاحیت تطبیق بودجه و نظارت از آن ،مربوط به شاروال میباشد .

**مادهٔ بیست وسوم :**

شاروال میتواند صلاحیت خودرا به معاونان انتقال دهد .

**مادهٔ بیست وچهارم :**

شاروال های ولسوالیهاو آمرین نواحي هر یک در ساحهٔ مربوطهٔ خود عوائد سالانه را پیشبینی و جهت ترتیب بودجه به شاروالی مرکزی مربوطه اش ارسال می نماید.

**مادهٔ بیست وپنجم :**

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمي نشرگرددوباانفاذ این

او ددغه قانون په نافذيدو سره د ښاروالیو هغه قانون چی د ۱۳٦۹ ه.ش کال د مرغومی د میاشتی په پنځلسمه نیټه په (۷۳۲) گڼه رسمی جریده کی خپور شوی دی دهغه له تعدیلاتو سره لغو بلل کیږی .

قانون ، قانون شاروالیها منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۷۳۲) مؤرخ ۱۵-۱۰-۱۳٦۹ ه.ش با تعدیلات آن ملغی شناخته میشود .

# دښاري خدمتونو د محصول قانون

## د ښاری خدمتونو دمحصول قانون

### لومړی فصل

### عمومی حکمونه

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د ښاروالیو دقانون د (۱٦)مادی د (۱۹)جز دحکم په اساس د ښاری خدمتونو د محصول داندازی دټاکنی د بیلابیلو مواردو په تثبیت پوری د اړوندو چارو د تنظیمولو په مقصد وضع شویدی .

**دوه یمه ماده :**

امارتی اداری او مؤسسی اونور حقیقی او حکمی اشخاص مکلف دی‌چی دښاری خدمتونو دترسره کولو په مقابل کی ددغه قانون له حکمونو سره سم ښاروالۍته محصول ورکړی.

**دریمه ماده :**

په دغه قانون کی لاندی اصطلاحگانی لاندینی مفهومونه افاده کوی :

۱- ښاری خدمتونه : هغه فعالیتونه ئ چی دښارد اوسیدونکو دارتیا وو دلیری کولو په مقصد د ښاروالی لخوا –

## قانون محصول خدمات شهری

### فصل اول

### احکام عمومی

**مادهٔ اول :**

این قانون بتأسی از حکم جزء (۱۹) مادهٔ (۱٦) قانون شاروالی ها بمنظور تنظیم امور مربوط به تثبیت انواع موارد تعیین اندازهٔ محصول خدمات شهری وضع گردیده است .

**مادهٔ دوم :**

ادارات ومؤسسات امارتی وسائر اشخاص حقیقی وحکمی مکلف اند در برابر انجام خدمات شهری طبق احکام این قانون به شاروالی محصول بپردازند .

**مادهٔ سوم :**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده مینماید :

۱- خدمات شهری : فعالیت های که بمنظور تأمین نیازمندی های ساکنین شهر توسط شاروالی

تیرسره کیږی .

۲-ناحیوی حوزه : دښار په محدوده کی شامله ساحه چی دپراختیا او پرمختیا له په پام کی نیولو سره ټاکل کیږی .

۳- صنفی جواز : هغه چاپی پاڼه ده چی د ښار دکسبګرو د بیلابیلو اصنافو د فعالیت دترسره کولو په مقصد ددغه قانون له حکمونو سره سم دښاروالی لخوا ویشل کیږی .

۴- دکار جواز : هغه چاپی پاڼه ده چی په بهرنیو مؤسسو او ادارو کی دمستخدمینو او اجیرانو دکار دترسره کولو په مقصد ورکول کیږی .

۵- بهاداره پاڼی : هغه پاڼی دی چی دښاروالیو په فرمایش د مالیی وزارت لخوا چاپ او دټاکلی بیی په بدل کی ویشل کیږی .

۶- فلزی نمری :هغه فلزی جوړی شوی ټوټی دی چی په هغو کی دملکیتونو ناحیی،سړک او کوڅی نمری په څرګند ډول درج او داسوکی دکورونو،تجارتی

انجام میشود .

۲- حوزهٔ ناحیوی : ساحهٔ شامل محدودهٔ شهر که با درنظرداشت توسعه وانکشاف تعیین میگردد .

۳- جواز صنفی : ورقهٔ مطبوعی است که بمنظور انجام فعالیت اصناف مختلف پیشه وران شهر طبق احکام این قانون از طریق شاروالی توزیع میگردد .

۴- جواز کار : ورقهٔ مطبوعی است که بمنظور انجام کار اجیرانی که در مؤسسات وادارات خارجی شامل کار میگردند ، اعطا میشود .

۵- اوراق بهادار : اوراقیکه طبق فرمایش شاروالیها از طرف وزارت مالیه طبع ودر بدل قیمت معینه توزیع میگردد .

۶-نمرات فلزی:پارچهٔ ریخته شده ئی که در آن نمرات ملکیت ها ،ناحیه سرک وکوچه بصورت برجسته درج وبمنظور تشخیص



ودانیو ، هټیو، حمامونو . سرایونو او دمارکیټونو دتشخیص په مقصد دښاروالیو لخوا دټاکلی بیی په بدل کی ویشل کیږی .

ټاکلی بیه پدی مقصد عبارت ده له تمامی شوی بیی جمع پنځلس فیصده ګټی څخه .

۷- اضافه تصرف : د ملکیت په سند کی د درج شویو حدودونه دزیاتی ځمکی تصاحب دی.

۸- دتهجائی محصول : هغه نغدی پیسی دی چی دښاروالی په ملکیت باندی د حقیقی او حکمی اشخاصو داقتصادی فعالیتونو د ترسره کولو په بدل کی اخیستل کیږی.

۹- دښاری تم ځای محصول : هغه نغدی پیسی دی چی د ښاروالی له ملکیت نه دماشینی واسطو دګټی اخیستنی په وخت کی د نقلیه واسطو له خاوندانو څخه اخیستل کیږی .

۱۰- د اطرافی تم ځای محصول : هغه نغدی پیسی دی چی دولایتونو

منازل رهایشی ،تعمیرات تجارتی . دکاکین،حمام ها،سرای‌هاومارکیتها از طریق شاروالیها دربدل قیمت معینه توزیع میگردد .

قیمت معینه بدین منظور عبارت از قیمت تمام شد جمع پانزده فیصد مفاد میباشد .

۷- اضافه تصرف : تصاحب زمین اضافه از حدود مندرج سند ملکیت .

۸- محصول تهجائی :وجه نقدی ایکه دربدل انجام فعالیت های اقتصادی اشخاص حقیقی وحکمی بالای ملکیت شاروالی اخذ میگردد .

۹- محصول توقفگاه شهری : وجه نقدی ایکه حین استفادهٔ وسائط نقلیهٔ ماشینی ازملکیت شاروالی از مالکین وسائط نقلیه اخذ میگردد .

۱۰- محصول توقفگاه اطرافی :وجه نقدی‌ایکه از رانندگان یا مالکان

دمسافر وړونکو نقلیه وأسطو له چلوونکو اویا خاوندانو څخه چې دښار دننه په تم ځای کې دړول کېږي،دمقرری سره سم اخیستل کېږي .

۱۱- اصناف :هغه کسبګران دي چې په انفرادی اویا ګډه توګه واحد تولیدی یا خدماتی فعالیتونه ترسره کوی .

۱۲- دنقشي بیه : هغه نغدی پیسیدي چې دښاری پروژو د نمونوی نقشو دویشلو په بدل کي د ښاروالی څخوا اخیستل کیږی .

څلورمه ماده :

(۱) هغه کسبګر او اصناف چې د ښاروالی په محدوده کی فعالیت کوی،دوي مکلف دی چې له ښاروالی یا اړوندي ناحیی څخه صنفي جواز واخلی .

دصنفی جواز دقرطاسی د بیی اخیستل یوازي دیوځل لپاره ددی قانون د(۱)کښه ضمیمه جدول له مخی هغه هم

عراده جات مسافربری ولایات که به داخل شهر درتوقفگاه توقف می کنند طبق مقررهٔ مربوطه اخذ میگردد .

۱۱- اصناف : پیشه ورانیکه بصورت منفرد یا مشترک فعالیت های تولیدی یا خدماتی واحد را انجام میدهند .

۱۲- قیمت نقشه : وجه نقدی ایکه دربرابر توزیع نقشه های نمونوی پروژه های شهری توسط شاروالی اخذ میگردد .

مادهٔ چهارم :

(۱) اهل کسبه و اصنأ فی که در محدودهٔ شاروالی فعالیت مینمایند آنها مکلف اند ازشاروالی یا ناحیهٔ مربوطه جوازصنفی اخذ نمایند .

اخذ قیمت قرطاسیهٔ جواز صنفی صرف براي یک مرتبه طبق جدول ضمیمهٔ شماره (۱) این قانون آنهم-



دکسبګرو په رضاء مجاز دی او دهغه بیه دي د ښاروالي په مخصوص حساب کي تحویل شي.

(۲) صنفي جواز له یوه شخص نه بل شخص ته د لیږدونی وړندي.

پنځمه ماده :

هغه اشخاص چې دښاروالی په ساحه کی په سیاسی دفترونو او نماینده ګیو دملګروملتوپه اداراو غیرحکومتیبهرنیو مؤسسوکیدنده ترسره کوی مکلف دیچې ددغه قانون دڅلورمی مادی دلومړۍ فقری له حکم سره سم دکارجواز ترلاسه کړی .

## دوه یم فصل

## اضافه تصرف ځمکه

شپږمه ماده :

(۱)هغه مستحق شخص ته چی دښاروالی لخوادځمکی نمره ورکول کیږي،که چیری دملکیت په سندکی له درج شوی مساحت نه زیاته ځمکه تصرف کړی،ښاری نقشه زیانمنه کړی اودعامه خلکو په ضررتمامه شي ودانی د هغه شخص په خپل لګښت بیخی

به رضاي اهل کسبه مجاز مي باشد وقیمت آن به حساب مخصوص شاروالی تحویل گردد.

(۲) جواز صنفی ازیک شخص به شخص دیگرقابل انتقال نمیباشد .

مادهٔ پنجم :

اشخاصیکه در دفاتر ونماینده گی های سیاسی،ادارات ملل متحدو مؤسسات خارجیغیرحکومتی درساحهٔ شاروالی ایفای وظیفه مینمایند،مکلف اند طبق حکم فقرهٔ اول مادهٔ چهارم این قانون جواز کار اخذ نما یند .

## فصل دوم

## زمین اضافه تصرف

مادهٔ ششم :

(۱)برای شخص مستحقیکه ازطرف شاروالینمرهٔ زمین توزیع میگردد هرگاه بیشترازمساحت مندرج سند ملکیت خویش زمین اضافه را تصرف نماید،نقشهٔ شهری رامتضرر ساخته وبه ضرر عامه تمام شود،ساختمان به مصرف

ویجاړه او اضافي ځمکه د هغه له تصرف څخه ویستل کېږي .

(۲) که چیری دغی مادی په لومړیه فقره کی درج شوی اضافه تصرف ځمکه په عامه زیان تمامه نشی، په دی هکله په لاندی ډول اجراآت ترسره کیږی:

۱- په هغه صورت کی چی داضافه تصرف ځمکی بیه دمتصرف دودانۍ له بیی نه کمه وی، دځمکی بیه دورځی په نرخ ښاروالی ته ورکول کیږی .

۲- په هغه صورت کی چی د اضافه تصرف ځمکی بیه دورځی د بیی له په پام کی نیولو سره د ودانی له بیی نه زیاته وی، د ودانۍ بیه د ښاروالی لخوا متصرف ته ورکول کیږی او ودانی د ښاروالی ملکیت بلل کیږی .

## دریم فصل

## دنقشی بیه

**اوو مه ماده :**

ښاروالی ګانی مکلفی دی چی دښاری پروژود ودانیونقشی په نمونوی (تیپیک اومودل) ډول برابری اود ټاکلي بیی په

خودآن شخص به کلی تخریب وزمین اضافی ازتصرف وی خارج میشود .

(۲) هرگاه زمین اضافه تصرف مندرج فقره(۱) این ماده به ضرر عامه تمام نشود، در مورد ذیلاً اجراآت صورت میگیرد :

۱- درصورتیکه قیمت زمین اضافه تصرف از قیمت ساختمان متصرف کم باشد ، قیمت زمین مطابق نرخ روز به شاروالی تادیه میگردد .

۲- درصورتیکه قیمت زمین اضافه تصرف بادرنظرداشت قیمت روز از قیمت ساختمان اضافه باشد، قیمت ساختمان ازطرف شاروالی برای متصرف تادیه گردیده و ساختمان ملکیت شاروالی شناخته میشود .

## فصل سوم

## قیمت نقشه

**مادهٔ هفتم :**

شاروالیهامکلف اندنقشه های تعمیراتی پروژه های شهری رابه شکل نمونوی (تیپیک ومودل) آماده



بدل کی ئې په لاندی ډول داشخاصو په خوښه (رضاء) دهغوی په واک کی ورکړی :

۱- د استوګنی د ځمکی دنمونوی نقشی بیه، ټول تمام شوی لګښتونه جمع په سلوکی پنځلس ګټه .

۲- د سوداګری او صنعتی ودانیو دنقشی بیه، دودانی دټولی بیی په سلوکی د دریو معادل .

**اتمه ماده :**

هغه شخص چی د ښاروالی له نقشو سره موافقه ونلری ، کولای شي پخپله خوښه ساختمانی نقشی برابری کړی، پدې شرط چی ګاونډیانوته ناوړه زیان ونه رسوی .

**نهمه ماده :**

هغه شخص چی له ښاروالی نه داستوګنی دځمکی نمره ترلاسه کوی مکلف دی چی ددغه قانون په اوومه او اتمه ماده کی ددرج شوی حکم سره سم د ودانۍ په جوړولو لاس پوری کړی .

نموده دربدل قیمت معینه طورذیل بدسترس اشخاص به رضای آنها قرار دهند :

۱- قیمت نقشهٔ نمونوی زمین رهایشی، مجموع مصارف تمام شد جمع پانزده فیصد مفاد .

۲- قیمت نقشهٔ ساختمان های تجارتی و صنعتی، معادل سه فیصد مجموع قیمت ساختمان .

**مادهٔ هشتم :**

شخصیکه به نقشه های شاروالی موافقه نداشته باشد ،میتواند نقشه های مطلوب ساختمانی را تهیه نماید، مشروط بر اینکه ضرر فاحش به همسایه ها وارد نکند .

**مادهٔ نهم :**

شخصیکه از شاروالی نمرهٔ زمین رهایشی دریافت میدارد، مکلف است طبق حکم مندرج مواد هفتم و هشتم این قانون به اعمار ساختمان آن اقدام نماید .

لسمه ماده :

هغه شخص چې له ښاري نقشې سره سم ئې دځمکې نمره ترلاسه کړې ده خو له دغې نمرې يادهغې له يوې برخې څخه دښاري نقشې دهدفونو پرخلاف کټه واخلي، فعاليت ئې بنداودنقشې له هدفونوسره سم دې ودانۍ بشپړه شي .

مادهٔ دهم :

شخصیکه نمرهٔ زمین را مطابق نقشهٔ شهری بدست آورده ولی ازین نمره یا ازیک قسمت آن خلاف اهداف نقشهٔ شهری استفاده نماید، فعالیت آن متوقف و طبق اهداف نقشه ساختمان تکمیل گردد .

## څلورم فصل

## املاکي خدماتي محصول

## فصل چهارم

## محصول خدماتی املاکی

يوولسمه ماده :

(۱) هغه شخص چې د ښاروالۍ دملکيت له ځمکې نه د اقتصادي فعاليتونو د ترسره کولو په مقصد کار واخلي ، مکلف دی چې ښاروالۍ ته د تهجائي محصول ورکړي .

(۲) هغه شخص چې سوداګري مالونه د ښاروالۍ منډيو ، مارکيټ او نورو ملکيتونو ته داخل کړي، مکلف دی چې دد غه قانون د دوه يمې ګڼې ضميمې له مخې اړوندې ښاروالۍ ته د تهجائي محصول ورکړي .

مادهٔ یازدهم :

(۱) شخصیکه از زمین ملکیت شاروالی بمنظور انجام فعالیت اقتصادی استفاده نماید مکلف است به شاروالی محصول تهجائی بپردازد .

(۲) شخصیکه اموال تجارتی را به مارکیت ، مندوی وسائر ملکیت های شاروالی داخل نماید مکلف است به شاروالی مربوط طبق ضمیمهٔ شماره(۲) این قانون محصول تهجائی بپردازد .



(۳) ښاروالۍ کولای شي ددغې مادې په لومړۍ او دوه يمه فقره کې درج شوي محصول د اړوندو کارکوونکو په واسطه او يا د قرارداد په لاسليک کولو سره د پيرودنې د مقررې له حکمونو سره سم را ټول کړي .

(۳) شاروالی میتواند محصول مندرج فقرات( ۱و۲) این ماده را توسط کارکنان مربوط یا به اساس عقد قرارداد طبق احکام مقررهٔ خریداری جمع آوری نماید .

دوولسمه ماده :

هغه انفرادي ليږدوونکي وسائط چې د ښاروالۍ په تم ځايونو کې دريږي خاوندان ئې مکلف دي چې د مقررې د حکمونو مطابق ښاروالۍ ته محصول ورکړي .

مادهٔ دوازدهم :

وسائط نقلیهٔ انفرادی که در توقفگاه های شاروالی توقف مینمایند مالکین آن مکلف اند طبق احکام مقرره به شاروالی محصول بپردازند .

## پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

## فصل پنجم

## احکام متفرقه

ديارلسمه ماده :

امارتي اداري او مؤسسې او هغه حقيقي اوحکمي اشخاص چې د ښاروالۍ له اجازې پرته په ښاري نقشې کې دننه جوړشوي سړکونه ( خامه او پاخه ) وکني ، د تاوان په ورکولو مکلف دي .

مادهٔ سیزدهم :

ادارات ومؤسسات امارتی،اشخاص حقیقی وحکمی که سرکهای احداث شده داخل نقشهٔ شهری( خامه وپخته) رابدون استیذان شاروالی کندن کاری نمایند،مکلف به جبران خساره میباشند .

**څوارلسمه ماده :**

د ښاروالی محصول په مروجو افغانی پیسو دورکړی وړ دی .

**پنځلسمه ماده :**

ښاروالی کولای شي په ماسترپلان کی شامل د سوداګری او لوړپوړیزو ساحواو دنورو ساحو ځمکی چې ویشل شوی نه وی، د ویشلو تروختـه پوری له تقنینی سندونو سره سم د قرارداد له مخی په مؤقتی ډول د تهجائی په مقصد په اجاره ورکړی .

**شپاړسمه ماده :**

د ښاروالی دملکیتونودصفائی او کرائی د محصول اندازه د جلا جلا مقررو په واسطه تثبیت او تنظیمیږی .

**اوولسمه ماده :**

(۱) ښاروالی کولای شي په ښه توګه ددغه قانون د حکمونو د پلی کولوپه مقصد — طرزالعمل وضع کړی.

(۲) ښاروالی کولی شی دمالیی وزارت په موافقه په محصولاتو کی دبیودبدلون له امله ددغه قانون په ضمیمو نوی کتنه وکړی او

**مادهٔ چهاردهم :**

محصول شاروالی به پول مروج افغانی قابل پرداخت میّباشد .

**مادهٔ پانزد هم :**

شاروالي ها میتوانند زمین ساحات تجارتی و بلند منزل وسائر ساحات شامل ماستر پلان راکه توزیع نګردیده باشد الیٰ زمان توزیع به اساس قرارداد طبق اسناد تقنینی مؤقتاً به منظور تـهجائی به اجاره بد هند .

**مادهٔ شانزدهم :**

اندازهٔ محصول صفائی وکرایهٔ ملکیت های شاروالی توسط مقرره های جداګانه تثبیت وتنظیم میګردد.

**مادهٔ هفدهم :**

(۱) شاروالی ها میتوانند به منظور تطبیق بهتراحکام این قانون طرزالعمل وضع نمایند .

(۲) شاروالی ها میتوانند در ضمائم این قانون نظر به تغییر قیم با موافقهٔ وزارت مالیه درمحصولات



دپړاوونو د تیرولو په مقصد ئی واکمنو مقامونوته وړاندی کړی .

**اتلسمه ماده :**

دغه قانون دتوشیح له نیتی څخه نافذ اوپه رسمی جریده کی دی‌خپورشی ددغه قانون په نافذیدوسره دښاری خدمتونوپه محصول پوری داړوندو نورو تقنینی سندونو،ضمائمواو لائحوحکمونه چي ددي قانون د حکمونو مغائر وي لغوه کیږی .

تجدید نظر نموده غرض طی مراحل به مقامات صالحه تقدیم نمایند .

**مادهٔ هجد هم :**

این قانون ازتاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر ګردد . با انفاذ این قانون احکام سائر اسناد تقنینی وضمائم ولوائح مربوط به محصول خدمات شهری مغائر احکام این قانون ملغی میګردد .

## ضمیمهٔ شماره (۱) جواز صنفي اصناف شهر کابل

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| | گروپ اول: | | |
| ۱- | آب میوه فروشي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲- | آیسکریم فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۳- | اسیاب آبي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۴- | آسیاب بر قي وديزلي | ۸۰۰۰۰ | |
| ۵- | ادویه فروشي طبي (عمده ) | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۶- | ادویه فروشي (پرچون ) | ۱۵۰۰۰۰ | |
| ۷- | ادویه فروشي یوناني | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۸- | ا رزن وگال فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۹- | ا ستخوان فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۰- | بتگري (داش نخود وجلغوزه) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۱- | برنج فروشي (عمده ) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۲- | برنج فروشي (پرچون) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۳- | بسکیت سازي آیسکریم | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۴- | پله فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۱۵- | بنیه گري | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۶- | تخم مرغ فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۷- | تخمیانه فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۸- | ترشي ومربا فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۹- | ترکاري فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۰- | توت فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۱- | جلبي پزي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۲- | جواري فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۳- | جهاز تیل کشي وگرسازي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۴- | جهاز شالي کوبي (پایکوب) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۵- | چاي فروشي (عمده) | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۲۶- | چاي فروشي (پرچون) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۷- | چپس ،ساسج وهمبرگر فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۸- | چپلي کبا ب فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۹- | حبوبات فروشي | ۵۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۳۰- | حلیم پزي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۳۱- | حلو یات فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۳۲- | خبازي زنانه | ۱۵۰۰۰ | |
| ۳۳- | خبازي مردانه به شمول ازبکي پزي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۳۴- | داش نان | ۲۰۰۰۰ | |
| ۳۵- | دانهٔ مرغ فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۳۶- | رستورانت (مطعم) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۳۷- | روغن فروشي(عمده) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۳۸- | روغن فروشي (پرچون) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۳۹- | سقا | ۱۰۰۰۰ | |
| ۴۰- | سماوارچي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۴۱- | سبوس فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۴۲- | سرکه فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۴۳- | سلاخ | ۱۰۰۰۰ | |
| ۴۴- | شبدرورشقه فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۴۵- | شیریخ وفالوده پز | ۳۰۰۰۰ | |
| ۴۶- | شیریني فروشي (عمده) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۴۷- | شیریني فروشي (پرچون) | ۳۰۰۰۰ | |
| ۴۸- | طباف (تبنک والا ) | ۱۰۰۰۰ | |
| ۴۹- | شورنخود فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۵۰- | علاف | ۱۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۵۱- | عطاري | ۲۰۰۰۰ | |
| ۵۲- | فریني فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۵۳- | قصابي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۵۴- | قنادي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۵۵- | کبابي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۵۶- | کچالوفروشي (عمده ) | ۴۰۰۰۰ | |
| ۵۷- | کچالوفروشي (پرچون) | ۲۰۰۰۰ | |
| ۵۸- | کلچه پزي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۵۹- | کیک وکلچه فروشي | ۳۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۶۰- | کله فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۶۱- | کله پزي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۶۲- | کنجاره فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۶۳- | کوفته گر | ۱۰۰۰۰ | |
| ۶۴- | گرفروشي(عمده) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۶۵- | گرفروشي (پرچون) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۶۶- | لبنیات فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۶۷- | لبلبو فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۶۸- | ماهي فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۶۹- | مرغ فروشي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۷۰- | میوهٔ تازه فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۷۱- | میوهٔ خشک فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۷۲- | منتووسمبوسه فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۷۳- | نمک فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| | گروپ دوم: | | |
| ۷۴- | هوتل بدون مسافر خانه | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۷۵- | هوتل مسافر خانه | ۱۵۰۰۰۰ | |
| ۷۶- | هوتل مهمانخانه دار | ۵۰۰۰۰ | |
| ۷۷- | هوتلیکه محافل درآن برگزار میشود | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۷۸- | مکروني فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۷۹- | نوشابه سازي غیر الکولي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۸۰- | نوشابه فروشي غیر الکولي | ۳۰۰۰۰ | |
| | گروپ سوم :رخت،ملبوسات وزیورات | | |
| ۸۱- | ابریشم فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۸۲- | انتیک فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۸۳- | اموال لوکس | ۵۰۰۰۰ | |
| ۸۴- | بالا پوش فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۸۵- | بزاز (عمده) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۸۶- | بزاز (پرچون) | ۴۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| -۸۷ | پیزارفروش وپیزاردوز | ۳۰۰۰۰ | |
| -۸۸ | بکس سازي | ۲۰۰۰۰ | |
| -۸۹ | بکس فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| -۹۰ | بوت دوزي | ۵۰۰۰۰ | |
| -۹۱ | بوت فروشي خارجي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| -۹۲ | بوت فروشي وطني | ۵۰۰۰۰ | |
| -۹۳ | بوت فروشي ليلا مي | ۳۰۰۰۰ | |
| -۹۴ | پخته فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| -۹۵ | پینه دوز،پاپوش پلاستیکي ورابري فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| -۹۶ | پرزه ٔ ساعت فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| -۹۷ | پوست حیوانات فروشي،پوستین فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| -۹۸ | پشم فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| -۹۹ | تاپه انداخت گل بالاي تکه | ۲۰۰۰۰ | |
| -۱۰۰ | تارفروشي (عمده) | ۳۰۰۰۰ | |
| -۱۰۱ | تارفروشي (پرچون) | ۱۵۰۰۰ | |
| -۱۰۲ | تار سردوز فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| -۱۰۳ | جاکت فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| -۱۰۴ | جاکت باف | ۲۰۰۰۰ | |
| -۱۰۵ | جراب فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| -۱۰۶ | جراب بافي | ۱۵۰۰۰ | |
| -۱۰۷ | چادري فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| -۱۰۸ | چپلي دوز وچپلي فروش | ۳۰۰۰۰ | |
| -۱۰۹ | چپلک یا سرپائي فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| -۱۱۰ | چرم گري (دباغي ) | ۲۰۰۰۰ | |
| -۱۱۱ | چرم فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| -۱۱۲ | چپن فروشي | ۵۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۱۱۳ | چپن دوز | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۱۴ | چکمن فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۱۵ | چکمن دوز | ۱۵۰۰۰ | |
| ۱۱۶ | خامک دوزي وگل دوزي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۱۷ | خشکه شوني | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۱۸ | خیاط | ۵۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ |
| ۱۱۹ | دستکش فروشي داخلي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۲۰ | دستمال باف ودستمال فروشي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۲۱ | دکمه سازي ودکمه فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۲۲ | دوبي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۲۳ | ریسمان تاب ،نخ و پشم تاب | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۲۴ | رفو گر | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۲۵ | رنگ ریز | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۲۶ | دستار (لُنگي) فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۲۷ | دستار (لُنگي) باف | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۲۸ | دستکش باف | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۲۹ | زرگر | ۲۰۰۰۰۰ | ۱۵۰۰۰۰ |
| ۱۳۰ | دست کش فروشي خارجي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۳۱ | ساعت ساز | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۳۲ | ساعت فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۳۳ | سلماني | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۳۴ | سورت چي پوست | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۳۵ | شال باف | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۳۶ | شال فروشي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۳۷ | شانه فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۳۸ | شانه ساز | ۱۵۰۰۰ | |
| ۱۳۹ | صابون سازي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۴۰ | صابون فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۴۱ | صندوق ساز | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۴۲ | صندوق فروشي | ۳۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۱۴۳- | عینک ساز | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۴۴- | عینک فروشی | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۴۵- | عطریات فروشی | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۴۶- | کالای پشاوری فروشی | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۴۷- | کلاه دوز | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۴۸- | کلاه فروشی | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۴۹- | کمر بند ساز | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۵۰- | کمر بند فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۵۱- | کمپل فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۵۲- | کشمیره فروشی (عمده ) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۵۳- | کشمیره فروشی (پرچون) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۵۴- | لوازم آرایش فروشی (سیمساری) | ۷۰۰۰۰ | |
| ۱۵۵- | لباس فروشی | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۵۶- | لحاف و دوشک فروشی | ۳۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰ |
| ۱۵۷- | لیلامی فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۵۸- | واسکت دوز | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۵۹- | واسکت فروشی | ۲۰۰۰۰ | |
| | گروپ چهارم : تسخین و محروقات فروشی | | |
| ۱۶۰- | گیس ، اریکین ، لمپه و اشتو پ ساز | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۶۱- | گیس ، اریکین ، لمپه واشتوپ فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۶۲- | بخاری سازی (حلبی سازی ) | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۶۳- | بخاری فروشی(خارجی ) | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۶۴- | بخاری فروشی(داخلی) | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۶۵- | بورهٔ اره فروشی | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۶۶- | بته فروشی وتانهٔ جواری فروشی | ۱۵۰۰۰ | |
| ۱۶۷- | ترمیم کنندهٔ جنراتور ،واتر پمپ ،کولر،بادپکه ویخچال | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۶۸- | تیل خاک ، دیزل و پترول فروشی (عمده) | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۶۹- | تیل خاک ، دیزل وپترول فروشی(پرچون) | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۷۰- | تیل نباتی فروشی | ۲۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۱۷۱ | جنراتور و واتر پمپ فروشی | ۱۵۰۰۰ | |
| ۱۷۲ | چوب فروشی محروقاتی | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۷۳ | ذغال فروشی | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۷۴ | گاز فروشی | ۴۰۰۰۰ | |
| | گروپ پنجم : مواد عمرانی و ساختمانی | | |
| ۱۷۵ | آئینه فروشی تعمیراتی | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۷۶ | آهن پوش ساز | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۷۷ | آهن چادر فروشی | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۷۸ | برقی | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۷۹ | پایپ رابری فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۸۰ | پلاستیک فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۸۱ | چاه کن و چاه صاف | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۸۲ | چک ساز | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۸۳ | تخته فروشی | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۸۴ | چوب چهار تراش فروشی | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۱۸۵ | چوب دستک فروشی | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۸۶ | تخنیک مرکز گرمی | ۴۰۰۰۰ | |
| ۱۸۷ | چونه ، گچ و کلوخهٔ مرمر فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۸۸ | خشت پخته فروشی | ۵۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ |
| ۱۸۹ | خشت خام فروشی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۹۰ | خشت مال | ۱۵۰۰۰ | |
| ۱۹۱ | خورده فروشی | ۱۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۱۹۲ | داش خشت و چونه | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۱۹۳ | دستگاه اره کشی (برقی یا دیزلی) | ۵۰۰۰۰ | |
| ۱۹۴ | دستگاه ساختمانی | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۱۹۵ | دلو ریسمان رابری فروشی | ۲۰۰۰۰ | |
| ۱۹۶ | رنگ فروشی تعمیراتی | ۷۰۰۰۰ | |
| ۱۹۷ | رنگمالی تعمیراتی | ۳۰۰۰۰ | |
| ۱۹۸ | رنگ فروشی | ۵۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۱۹۹ | سامان برق فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۰۰ | سامان تشناب فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۰۱ | سمنت فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۰۲ | سنگ زمين فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۰۳ | سنگ سمنت فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۰۴ | سيخ گول فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۰۵ | گل وخاک فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۰۶ | فلزکاري | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۰۷ | کاه فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۰۸ | گلکار(بناء) | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۰۹ | مزد کار | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۱۰ | نجار | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۱۱ | ولدنگ کار | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۱۲ | ويرنکار | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۱۳ | سيم دوان | ۶۰۰۰ | |
| ۲۱۴ | نلدوان | ۵۰۰۰۰ | |
| | **گروپ ششم : وسائط وپرزه جات** | | |
| ۲۱۵ | بايسكل ساز | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۱۶ | پنچرميني | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۱۷ | بايسكل فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۱۸ | تايروتيوپ فروشي جديد | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۲۱۹ | تايروتيوپ كهنه و مستعمل | ۱۰۰۰۰۰ | |
| | فروشي | | |
| ۲۲۰ | پرزه فروشي | ۲۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰ |
| ۲۲۱ | دستگاه (وركشاپ) ترميم | ۱۰۰۰۰۰ | |
| | وسائط موتري | | |
| ۲۲۲ | سيت دوزي وسيت فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| | موتر | | |
| ۲۲۳ | كراچي سازي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۲۴ | كراچي فروشي | ۵۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۲۲۵ | کپي کشي ورنگمالي موتر | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۲۶ | گادي سازي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۲۷ | گادي ران | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۲۸ | موتر فروشي | ۳۰۰۰۰۰ | |
| ۲۲۹ | موتر شوئي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۳۰ | رانندهٔ موتر | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۳۱ | منظره فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۳۲ | روغنيات‌فروشي‌وسائط موتر | ۱۰۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ |
| | **گروپ هفتم : ظروف ومفرشات اثاثيه منزل** | | |
| ۲۳۳ | آشپز(شخصي) | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۳۴ | الماري وسيف فروشي جديد | ۵۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ |
| ۲۳۵ | بوريا بافي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۲۳۶ | بوريا فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۳۷ | پتره گر | ۱۰۰۰۰ | |
| ۲۳۸ | تات فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۳۹ | تخت چوبي فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۴۰ | چپرکت فروشي جديد | ۵۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ |
| ۲۴۱ | ديگ بخار فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۴۲ | ظروف المونيمي فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۴۳ | ظروف استالفي فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۴۴ | ظروف پلاستيکي فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۴۵ | ظروف چيني فروشي جديد | ۱۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۲۴۶ | ظروف نکلي فروشي جديد | ۷۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۲۴۷ | سترنجي باف | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۴۸ | سترنجي وپاي پاک فروشي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۴۹ | فرش ايراني و روسي فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۵۰ | قالين باف | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۵۱ | قالين فروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۲۵۲ | كلال | ۲۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| -۲۵۳ | مسگر | ۴۰۰۰۰ | |
| -۲۵۴ | موبل سازي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| -۲۵۵ | موبل فروشي | ۱۵۰۰۰۰ | |
| -۲۵۶ | نمد باف | ۳۰۰۰۰ | |
| -۲۵۷ | نداف | ۲۰۰۰۰ | |
| | گروپ هشتم:دفاترمهندسي وساختماني | | |
| -۲۵۸ | دفترمهندسي،نقشه سازي وموازنهٔ حسابي غيرامارتي | ۱۵۰۰۰۰ | |
| -۲۵۹ | دفتردارالترجمه | ۵۰۰۰۰ | |
| -۲۶۰ | دفتردارالمشوره | ۵۰۰۰۰ | |
| | گروپ نهم :كتاب وقرطاسيه فروشي | | |
| -۲۶۱ | پست كارت فروشي | ۱۵۰۰۰ | |
| -۲۶۲ | پرزه فروشي راديو،تايپ ،كمره وسامان عكاسي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| -۲۶۳ | ترميم كمره | ۵۰۰۰۰ | |
| -۲۶۴ | راديو،تائپ ولودسپيكرفروشي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| -۲۶۵ | رسامي اشياي غيرذي الروح | ۱۵۰۰۰ | |
| -۲۶۶ | صحافي | ۱۵۰۰۰ | |
| -۲۶۷ | قلم ساز | ۱۰۰۰۰ | |
| -۲۶۸ | كاغذ فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| -۲۶۹ | كمره فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| -۲۷۰ | گل فروشي وگل سازي | ۵۰۰۰۰ | |
| -۲۷۱ | لوحه ساز | ۲۰۰۰۰ | |
| -۲۷۲ | ميناتوري | ۲۰۰۰۰ | |
| | گروپ دهم :مواشي،سلاح وكلپ هاي ورزشي | | |
| -۲۷۳ | اسباب بازي طفلانه كه بازي آن جواز شرعي داشته باشد | ۲۰۰۰۰ | |
| -۲۷۴ | اسپ ومركب فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۷۵ | پالان فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۷۶ | تفنگ وكار توس فروشي | ۱۵۰۰۰۰ | |
| ۲۷۷ | دارندهٔ كلپ تكواندو، جيدو،كاراته وكانكفو | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۷۸ | دارندهٔ كلپ پهلواني | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۷۹ | دارندهٔ كلپ هاي ورزشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۸۰ | زين ولگام فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۸۱ | زه فروشي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۲۸۲ | سامان ورزش فروشي | ۴۰۰۰۰ | |
| | گروپ يازدهم : كسبه كار متفرقه | | |
| ۲۸۳ | بوت رنگ يا بوت پالش | ۱۰۰۰۰ | |
| ۲۸۴ | تابوت ساز | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۸۵ | تابوت فروش | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۸۶ | آهنگر | ۳۰۰۰۰ | |
| ۲۸۷ | تنور ساز | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۸۸ | حمامي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۸۹ | دلال فروشي اموال منقول | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۹۰ | ريخته گري وكليت كاري | ۱۰۰۰۰ | |
| ۲۹۱ | سرايدار | ۱۵۰۰۰ | |
| ۲۹۲ | صراف | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۲۹۳ | قفل وكليد سازي | ۱۰۰۰۰ | |
| ۲۹۴ | كارگاه ماشين آلات برقي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۲۹۵ | مواشي فروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۹۶ | مؤسسهٔ زنبور داري عسل | ۲۰۰۰۰ | |
| ۲۹۷ | ليلام چي (بولي كننده) درصورتيكه ليلام شرعاً مجازباشد | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۹۸ | ني فروشي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۲۹۹ | كهنه فروشي | ۲۰۰۰۰ | |

| شماره | اسم صنف | درجه اول | درجه دوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| ۳۰۰ | پرزه فروشي داغمه | ۷۰۰۰۰ | |
| ۳۰۱ | آهن باب کهنه فروشي | ۷۰۰۰۰ | |
| ۳۰۲ | بطري چارچي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۳۰۳ | تیزاب فروشي | ۳۰۰۰۰ | |
| ۳۰۴ | چاقوساز وچاقوفروشي | ۲۰۰۰۰ | |
| ۳۰۵ | ماشین خیاطي فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۳۰۶ | فارم چوچه کشي مرغ | ۳۰۰۰۰ | |
| ۳۰۷ | مواد خام قالین بافي | ۱۵۰۰۰ | |
| ۳۰۸ | پوش ماشین خیاطي | ۴۰۰۰۰ | |
| ۳۰۹ | خوراکه فروشي | ۵۰۰۰۰ | |
| ۳۱۰ | دستگاه تولیدي ، کلوش، بوت پلاستیکي شمع حجاري ونجاري وکلیه پلاستیکي | ۱۰۰۰۰۰ | |
| ۳۱۱ | شرکت هاي تجارتي (لمتید) | ۲۰۰۰۰۰ | |
| ۳۱۲ | بوره فروشي | ۵۰۰۰۰ | |

گروپ دوازدهم : جواز کار اجیران داخلي که در مؤسسات خارجي استخدام به کار میگردند.

۳۱۳ قیمت جواز کاراز قرار (۱۰) فیصد معاش یکماهه اخذ میگردد .

## ضمیمۀ شماره دوم محصول تهجائي مندرج مادۀ یازدهم

## قانون محصول خدمات شهري

| شماره | شاخص هاي محصولي | محصول قابل پرداخت | |
|---|---|---|---|
| ۱ـ | اخـــذ محصـــول از فروشـــندۀ فـــي رأس گاو، گاو میـــش گوساله،اشتر، اسپ ومرکب معۀ شب باش. | ۴۵۰۰ چهار هزارو پنجصید | افغاني |
| ۲ـ | اخذمحصول ازفروشندۀ في رأس گوسفند،بزو آهو. | ۱۵۰۰ یکهزار و پنجصد | افغاني |
| ۳ـ | اخذمحصول ازیک‌عرادهموترچوب سوخت ذغال وکاه سفید. | ۷۰۰۰ هفتهزار | افغاني |
| ۴ـ | اخذ محصول از یک عراده موتر چوب دستک . | ۱۱۵۰۰ یازده هزار وپنجصد | افغاني |
| ۵ـ | اخذ محصول از یک عراده موتر چوب چهار تراش. | ۴۲۰۰۰ چهل و دو هزار | افغاني |
| ۶ـ | اخذ محصول از ورود یک عراده موتر تربوزو خربوزه. | ۲۳۰۰۰ بیست وسه هزار | افغاني |
| ۷ـ | اخذ محصول ازخروج یک عـــراده موترتربـــوز وخربـــوزه. | ۹۰۰۰۰ نو دهزار | افغاني |
| | در بخش محصول از مارکیت ها ، مندوي ها ترازو وقپـــان مارکیت میوه و ترکاري : | | |
| ۸ـ | اخذمحصول از في موتر(۱۶۲۰) و کاماز حامل مواد. | ۱۱۵۰۰ یازده هزار وپنجصد | افغاني |
| ۹ـ | اخذمحصول ازفي موترچکله وراکت لاري حامل مواد. | ۷۰۰۰ هفت هزار | افغاني |
| ۱۰ـ | اخذ محصول از في موتر سرویس باربري ومعادل آن . | ۴۵۰۰ چهار هزار وپنجصد | افغاني |
| ۱۱ـ | اخذ محصول از في موتر میني بس،دیناومعادل آن حامل مواد. | ۲۵۰۰ دو هزار وپنجصد | افغاني |
| ۱۲ـ | اخذمحصول ازکراچي هاي خورد وکلان ومرٌکب دار. | ۱۰۰۰ یکهزار | افغاني |
| ۱۳ـ | اخذ محصول از دخول بوري مواد خوراکه از بائع . | ۵۰۰ پنجصد | افغاني |
| ۱۴ـ | اخذمحصول ازدخول في کریت ویاقطي روغن از بائع. | ۵۰۰ پنجصد | افغاني |
| ۱۵ـ | اخذ محصول از دخول في قطي روغن خورد از بائع . | ۵۰۰ پنجصد | افغاني |
| ۱۶ـ | اخذ محصول از دخول في بیرل روغن از بائع . | ۷۰۰۰ هفت هزار | افغاني |
| ۱۷ـ | اخذ محصول هنگامیکه وسائط شب را در مارکیت یا مندوي سپري نماید . | ۵۰۰ پنجصد | افغاني |
| ۱۸ـ | اخذ محصول از تهجائي في موتر (۱۶۲۰) وکاماز . | ۲۵۰۰ دو هزار وپنجصد | افغاني |
| ۱۹ـ | اخذ محصول از تهجائي في موتر چکله ، لاري ومعادل آن . | ۱۵۰۰ یک هزار وپنجصد | افغاني |
| ۲۰ـ | اخذمحصول ازتهجائي‌في‌موترسرویس هاي باربري ومعادل آن. | ۱۰۰۰ یک هزار | افغاني |
| ۲۱ـ | اخذ محصول از تهجائي في موتر دینا، میني بس و معادل آن . | ۵۰۰ پنجصد | افغاني |
| ۲۲ـ | اخذ محصول از شب باش في رأس حیوان (اگرباشند) . | ۱۰۰۰ یک هزار | افغاني |

# دځمکي د استملاک قانون

## د ځمکې د استملاک قانون

### لومړی فصل

### عمومي حکمونه

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د ځمکو د استملاک د اړوندو مسئلو دتنظیم په مقصد چې دعامه اړتیا یاحاجت په منظورصورت مومي ، وضع شویدی .

**دوه یمه ماده :**

دیوی ټوټی ځمکې یا دهغې د یوې برخې استملاک چې ورته عامه اړتیا یاحاجت وي د وزیرانو شورئ په تصویب د مخکینی عادلانه تعویض(دورځې نرخ) په بدل کې صورت مومي .

**دریمه ماده :**

د لاندې مقصدونو لپاره دیوې ټوټې ځمکې کُلي یا قسمي استملاک دوزیرانو شورئ له واک څخه دی :

۱- دتولیدي موسسو ، لویو لارو، د نفت اوگاز دلولې ( پایپ لین) دخط دجوړولو،د مخابراتو دلین

## قانون استملاک زمین

### فصل اول

### احکام عمومی

**مادهٔ اول :**

این قانون به مقصد تنظیم مسائل مربوط استملاک زمین که به منظور ضرورت یاحاجت عامه صورت میگیرد ، وضع گردیده است .

**مادهٔ دوم :**

استملاک قطعه زمین ویا قسمتی از آن که مورد ضرورت یاحاجت عامه باشد به تصویب شورای وزیران در بدل تعویض قبلی و عادلانه (نرخ روز) صورت میگیرد .

**مادهٔ سوم :**

استملاک کُلی یا قسمی یک قطعه زمین به مقاصد آتی از صلاحیت شورای وزیران میباشد :

۱- اعمار موسسات تولیدی شاهراه ها،خط لولهٔ (پایپ لین) نفت وگاز ، تمدید لین مخابرات

د برق د ليږدونى د لين غځولو دبدرفت دشبكى(كاناليزاسيون) داوبورسولو دشبكود تمديد ولو مسجدونواودينى مدرسواونورو عام المنفعه تأسيساتو جوړول .

۲- د كانونواو ترځمكي لاندى زيرمو راويستل ( استخراجول ) .

۳- د فرهنگى يا علمى اهميت لرونكى ځمكى ،صالح الزراعه ځمكى پراخ باغونه او عمده تاكستانونه چى مهم اقتصادى اهميت لرى او هغه ځمكى چى د ځنگلونو او بندونو تر ساحى لاندى وى ، په استثنائى مواردوكى د وزيرانو شورئ د تصميم پر اساس ترشرعي جوازوروسته استملاک كيدلى شي .

**څلورمه ماده :**

ديوى ټوټى ځمكى ديوىبرخى استملاک له استملاک وروسته بايد دمالک لپاره له پاتى ځمكى څخه گټه اخيستنه ناممكنه نه كړى او هم له پاتي شوي ځمكىنه دگټىاخيستلو لپاره نامساعد

لين انتقال برق، شبكهٔ بدرفت (كاناليزاسيون) ، شبكهٔ آبرسانى مساجد و مدارس دينى وساختمان سائر تأسيسات عام المنفعه.

۲- استخراج معادن و ذخائر زير زمينى .

۳- زمين هاى داراى اهميت فرهنگى ياعلمى ، زمين هاى صالح الزراعه باغهاى وسيع و تاكستان هاى عمده كه اهميت اقتصادي مهم دارند وزمين هاى كه تحت ساحهٔ جنگل و بند ها قرار دارند، درموارد استثنائى به اساس تصميم شوراى وزيران بعد ازمجوزشرعي استملاک شده ميتواند .

**مادهٔ چهارم :**

استملاک قسمتى از يک قطعه زمين نبايد استفادهٔ مالک را از زمين باقيمانده بعد ازاستملاک ناممكن سازد وشرائط نامساعد استفاده از زمين رابوجود آورد،يادربهره بردارى



شرائط اويا هم له دي ځمكى څخه د گټى اخيستلو په كاركى ستونزى راپيدا نه كړى . كه چيرى داسى شرائط رامنځ ته كړى، بايد هغه ټوټه ځمكه ټوله استملاک شى .

**پنځمه ماده :**

د ځمكى د استملاک څخه د راپيدا شوى زيان دټاكنى لپاره په لاندى تركيب يوهيئت د ښاروالى له خوا جوړيږى :

۱- دځمكي مالک يا گټه اخيستونكي يا دهغوى استازى .

۲- د هغې مؤسسى يا ادارى واكمن استازى چى استملاک دهغي دارتيا مطابق صورت مومي .

۳- د ښاروالى استازى .

۴- د ماليى وزارت استازى .

۵-دعدليي وزارت دامارت دقضاياوو استازى.

**شپږمه ماده :**

(۱) له ځمكى څخه دمالكيت ياگټه اخيستونكي حق، د پروژى د عملى تطبيق له نيتى څخه درى مياشتى

زمين، مشكل ايجاد نمايد، هرگاه چنين شرائط را به وجود آورد، بايد تمام آن قطعه زمين استملاک گردد .

**مادهٔ پنجم :**

براى تعيين خسارهٔ ناشى از استملاک زمين از طرف شاروالى هيئتى به تركيب آتى تشكيل ميگردد :

۱- مالک يا استفاده كنندهٔ زمين يا نمايندهٔ آنها .

۲- نمايندهٔ باصلاحيت مؤسسه يا اداره ايكه استملاک طبق ضرورت آن صورت ميگيرد .

۳- نمايندهٔ شاروالى .

۴- نمايندهٔ وزارت ماليه .

۵- نمايندهٔ قضاياى امارت وزارت عدليه.

**مادهٔ ششم :**

(۱) حق مالكيت ويا حق استفاده كننده از زمين، سه ماه قبل از تاريخ تطبيقعملى پروژه، درصورت پرداخت

دمخه،دځمکی مالک ته دحقوقو دورکړی یا ددغه قانون په(۸او۹) مادوکی درج شوی د ځمکی څخه د ګټی اخیستونکی دزیان دجبران په صورت کی قطع کیږی .

(۲) دمالکیت دحق پای ته رسیدل مالک یا ګټه اخیستونکي دځمکی له حاصل او د هغی دسردرختی له راټولولو څخه نه بی برخی کوی،له هغو مواردوپرته چی له ځمکی څخه په بیړنی توګه ګټه اخیستنه دځمکی دفوری تخلیی کولو غوښتنه وکړی .

اوومه ماده :

(۱) دځمکی پیژندنی (جیولوژیکی) تفحصاتی،دځمکي دسطح(جیودیزیکی) اونوري څیړنیزي موسسی،اداری اوتشکیلات کولی شی اړوندی چاری چی موقتأئی ترسره کوی،دنظرور توتی ځمکی له استملاک څخه پرته دښاروالی یادسیمی دآمرپه اجازی سره ترسره کړی .

حقوق مالک یا جبران خسارهٔ استفاده کنندهٔ زمین، مندرج مواد(۸و۹) این قانون قطع میگردد .

(۲) انقضای حق مالکیت ، مالک یا استفاده کننده را از جمع آوری حاصل زمین و سردرختی محروم نمی سازد به استثنای مواردی که استفادهٔ عاجل از زمین تخلیهٔ فوری زمین راایجاب نماید .

مادهٔ هفتم : .

(۱) موسسات، ادارات وتشکیلات زمین شناسی (جیولوژیکی) تفحصاتی ، سطح زمین ( جیودیزیکی)وتحقیقاتی دیگرمیتوانند امورمربوط راکه موقتاً صورت میگیرد، بدون استملاک قطعه زمین مورد نظر به اجازهٔ شاروالی یا آمر محل اجرانمایند .



(۲) دڅیړنیزوچارودپیل نیټه او داجراءکولوځای ،دځمکی دمالک یا ګټه اخیستونکی په موافقه ټاکل کیږی. د موافقی دنه حاصلیدو په صورت کی ښاروال یا دسیمی اړوند آمر داړوندو چارو د پیل نیټه او داجراءکولوځای ټاکی.

## دوه یم فصل

### تعویضات(عوضونه)

اتمه ماده :

دځمکی د استملاک په اړه لاندی تعویضات صورت مومی :

۱- دځمکی بیه .

۲- د استوګنی دکورونو،ودانیو او نوروهغو ساختمانونوبیه چی پر ځمکه باندی واقع دی .

۳- دمیوه لرونکو، زینتی ونواوپرځمکو باندی دنورومغروساتوبیه .

نهمه ماده :

هغواشخاصو چیده۱۳۵۷.ش کال دلیندۍ دمیاشتی له (۹) نیټی څخه د۱۳۷۱ ه .ش

(۲) تاریخ شروع ومحل اجرای امورتحقیقاتی به موافقهٔ مالک ویااستفاده کنندهٔ زمین تعیین میشود. درصورت عدم حصول توافق شاروال یاآمر محل مربوطه تاریخ شروع و محل اجرای امور مذکور را تعیین میدارد .

## فصل دوم

### تعویضات

مادهٔ هشتم :

در رابطه به استملاک زمین تعویضات آتی صورت میگیرد :

۱- قیمت زمین .

۲- قیمت منازل مسکونی ،تعمیرات وسائر ساختمانهای که بالای زمین واقع است .

۳- قیمت اشجار مثمر زینتی وسائر مغروسات بالای زمین .

مادهٔ نهم :

اشخاصیکه از تاریخ (۹)قوس سال ۱۳۵۷ه.ش الی (۸) ثور ۱۳۷۱به اساس

کال د ثور تر( ۸ )نیتی پورې د هغه وخت دخاصو تقنینی سندونو په اساس ځمکی تر لاسه کړېدی ، په هغه صورت کی چی نوموړوځمکوته عامه اړتیا یا حاجت وی، د استملاک په وخت کی صرف دودانی اوپرځمکی باندی د مغروساتو بیه د ځمکی له بیی ځخه پرته هغوی ته ورکول کیږی .

**لسمه ماده :**

د تر استملاک لاندی ځمکی بیه دوزیرانو شورئ لخوا ټاکل کیږی . د بیی په ټاکلوکی د ځمکی درجه او موقعیت په نظر کی نیول کیږی .

**یوولسمه ماده :**

دځمکی دمالک یا ګته اخیستونکی مربوط د استوګنی دکورونو،تعمیراتو او نورو ودانیو بیه د ښاروالی د هیئت په واسطه د بیی اینبودنی ( قیمت ګذاری ) د واحد جدول مطابق ټاکل کیږی .

سند تقنینی خاص آنوقت زمین بدست آورده اند، در صورتیکه زمین مذکور طرف ضرورت یا حاجت عامه باشد،حین استملاک صرف قیمت ساختمان و مغروسات بالای زمین بدون تادیهٔ قیمت زمین به آنها پرداخته میشود .

**مادهٔ دهم :**

قیمت زمین تحت استملاک از طرف شورای وزیران تثبیت میشود.

درتثبیت قیمت درجه وموقعیت زمین در نظر گرفته میشود .

**مادهٔ یازدهم :**

قیمت منازل مسکونی ، تعمیرات وسائر ساختمانهای مربوط به مالک ویا استفاده کنندهٔ زمین توسط هیئت شاروالی مطابق جدول واحد قیمت ګذاری تعیین میگردد .



**دوولسمه ماده :**

د اوسیدنی دکورونو یانورو ودانیو ساختمانی مواد.وروسته د بیی له ورکړی څخه په وړیا ډول په مالک پورې اړه نیسی. په دی حالت کی دودانی دویجاړولو (تخریب)عمل دمالک په واسطه اجراءکیږی.ددی مادی حکم داوسیدنی پرهغوکورونواوودانیوباندی چی د استملاک د قانون له نافذیدووروسته ئې ځمکی استملاک شوی،مګر ویجاړی (تخریب) شوی نه وی هم تطبیقیږی .

**دیارلسمه ماده :**

د هغو کسانو لپاره چی دکورونو ځمکی ئې استملاک کیږی ،په هماغه قیمت یوه نمره ځمکه ورکول کیږی او یا دمالک دغوښتنی له امله دهغه د اوسیدنی دکور دبیی دورکړی په بدل کی داوسیدنی له امارتی کورونو څخه یو، د ټاکلو معیارونو مطابق دهغه په واک کی ورکول کیداي شي .

**مادهٔ دوازدهم :**

مواد ساختمانی منازل مسکونی وسائر ساختمانها بعد از تادیهٔ قیمت آن بطور رایگان به مالک تعلق میگیرد . درین حالت عمل تخریب ساختمان توسط مالک اجراءمیگردد. حکم این ماده بر منازل مسکونی وسائر ساختمانهای‌که بعد از انفاذ قانون استملاک ، زمین آن استملاک شده اما تخریب نگردیده باشد نیزتطبیق میشود .

**مادهٔ سیزدهم :**

برای کسانیکه زمین خانه های شان استملاک میشود. یک نمره زمین به همان قیمت داده شده ویادراثرتقاضای مالک درعوض تادیهٔ قیمت خانهٔ مسکونی وی ،یکی از منازل رهایشی امارتی مطابق معیارهای معین در اختیار وی ګذاشته شده میتواند .

**څوارلسمه ماده :**

مالک ته د استملاک شوی ځمکی دبیی دورکړی په بدل کی د هغه په موافقه د هغه دځمکی معادل نوره ځمکه ورکول کیداي شي، که چیری نوی ځمکه چی مالک ته ورکول کیږی ددرجی له لحاظه له اصلی ځمکی څخه لوړه وی ، مالک دځمکی ددرجی د تفاوت بیه امارت ته ورکوی او دهغه په عکس سره ، اداره د بیی تفاوت مالک ته ورکوی .

**پنځلسمه ماده :**

(۱) دمیوه لرونکو(مثمرو) ، زینتي‌ونو او نورو هغو مغروساتو بیه چی په تر استملاک لاندی ځمکوباندی‌واقع دی او دځمکي دمالک یاګټه اخیستونکي مربوط وی، د ښاروالی اود زراعت دادارې په تصمیم ټاکل کیږی.

(۲) دځمکی مالک یا ګټه اخیستونکي حق لری د استملاک شوی ځمکی میوه لرونکی او زینتی-

**مادهٔ چهاردهم :**

به عوض تادیهٔ قیمت زمین استملاک شده برای مالک ،به موافقهٔ وی معادل زمین وی زمین دیگری داده شده میتواند . هرگاه زمین جدید که به مالک داده میشود، از لحاظ درجه بالاتر از زمین اصلی باشد، مالک قیمت تفاوت درجهٔ زمین را به امارت پرداخته ودر عکس آن اداره تفاوت قیمت را به مالک می پر دازد .

**مادهٔ پانزدهم :**

(۱) قیمت اشجارمثمر، زینتی وسائر مغروسات که بالای زمین تحت استملاک واقع است ومربوط به مالک و استفاده کنندهٔ زمین میباشد ،به اساس تصمیم شاروالي وادارهٔ زراعت‌تعین‌میگردد.

(۲) مالک زمین یااستفاده کننده حق دارد اشجارمثمر، زینتی وسائر مغروسات زمین استملاک شده را



ونی اونورمغروسات ، په هغه صورت کی چی د شنی ساحی په طرح(پلان) کی شامل نه وی کُلاً یا قسمًا ترلاسه کړی ،پدی شرط چی د هغو بیه ئی مخکی نه وی اخیستی .

**شپاړسمه ماده :**

که چیری دامارت دملکیت ځمکی چی د ادارو، امارتی او مختلطو مؤسسو تر تصرف لاندی واقع وی دامارت اوعامه خدمتونو داړتیا لپاره دښاروالی یا نورو ادارو لخوا تصرف شی،په دی صورت کی یوازی ودانیز (ساختمانی) مواد په مخکنیو متصرفینو پوری اړه نیسی . د ځمکی بیه او دودانی ( ساختمان ) بیه هغوی ته نه ورکول کیږی .

**اوولسمه ماده :**

دعامه اړتیا یا حاجت لپاره د امارتی ځمکو تصرف (پدی‌جمله کی ښاری آزادی‌ځمکی ) داخیستل شوی ځمکی دبیی له ورکړی څخه پرته صورت مومي .

کُلاًیا قسمًا در صورتیکه درطرح (پلان) ساحهٔ سبز شامل نباشد تصاحب نماید، مشروط بر اینکه قیمت آنرا قبلاً اخذ نکرده باشد .

**مادهٔ شانزدهم :**

هرگاه زمین های ملکیت امارت که تحت استفادهٔ ادارات ، مؤسسات امارتی و مختلط قرار دارد، غرض ضرورت امارت از طرف شاروالی یا ادارات دیگر تصرف گردد، دراین صورت صرف مواد ساختمانی به متصرفین قبلی تعلق میگیرد قیمت زمین و قیمت ساختمان به آنها پرداخته نه میشود .

**مادهٔ هفدهم :**

.تصرف زمین های امارت (منجمله زمین های آزاد شهری ) برای ضرورت یا حاجت عامه بدون تادیهٔ قیمت زمین اخذ شده صورت میگیرد .

ښاروالي یاولسوالي د نومورو ځمکو داخیستلو په بدل کې له اداری یا مؤسسې څخه یوازې لاندې لګښتونه تحصیلوي :

۱- د طرح (پلان) او تر ساختمان لاندې ځمکې چمتو کولو لګښتونه .

۲- د اساسي لارو دکانکریټ اسفلت اونیالګي اینبودنې لګښتونه او دویالو د جوړولو لګښتونه .

۳- دتر ودانولو لاندې ودانۍ د ساحې دښیرازه کولو او داساسي او فرعي تفریح ځایونو لګښتونه .

۴- د اوبو دبرابرولو ، دبدرفت د شبکې ( کانالیزاسیون) او دبرق دلین دنښلولو (اتصال) لګښتونه .

۵- د ښاري آبادۍ په اړه نور لګښتونه.

**اتلسمه ماده :**

(۱) دهغه قانون په (۷) ماده کې درج شویو تفحصاتي او تحقیقاتي کارونو د اجراء کولو څخه را پیداشوي زیان د داړو خواوو په

شاروالی یا ولسوالی در برابر اخذ زمین مذکور صرف مصارف آتی را از مؤسسه و اداره تحصیل میدارد :

۱- مصارف طرح (پلان ) و آماده ساختن زمین تحت ساختمان .

۲- مصارف کانکریت، اسفلت و نهال شانی، راه های اساسی و مصارف احداث جوی ها .

۳- مصارف سرسبز ساختن ساحهٔ تحت ساختمان و ایجاد تفریحگاه های اساسی وفرعی .

۴- مصارف تهیهٔ آب ،شبکهٔ بدرفت (کانالیزاسیون) واتصال لین برق .

۵- سائر مصارف مربوط به آبادانی شهری .

**مادهٔ هجدهم :**

(۱) خسارات ناشی از اجرای کارهای تفحصاتی و تحقیقاتی مندرج مادهٔ(۷)این قانون به موافقت طرفین جبران میگردد،درصورت عدم



موافقه جبران کیږي. دنه موافقې په صورت کې د واردشوي زیان جبران د هغه هیئت په واسطه چې د ښاروالي یاولسوالۍ خواجوړیږي، ټاکل کیږي.

(۲) د هیئت په ترکیب کې دعلاقه لرونکو اړخونو او نورو ادارو واکمن استازي شامل دي .

نولسمه ماده .

(۱) که چیري دځمکې مالک یا ګټه اخیستونکې د استملاک د تطبیق تروخته پورې دځمکې دمحصولاتو اوسردرختي په راټولولو بریالي نشي‌هغه مؤسسې اواداري چې ځمکه هغو ته ورکول شوی ده،مکلفې دي چې دمالک یاګټه اخیستونکې خساره جبران کړي .

(۲) دخسارې اندازه د هغه هیئت په واسطه چې دښاروالي،دزراعت داداری اوولسوالی له خواجوړیږي،دکرنیز تخم اوسري(کود)دارزښت اوداوبولګولواو نورو خدمتونودلګښتونوپه نظرکې نیولوسره چې دمالک‌په واسطه ترسره شوي دي تثبیتیږي.

توافق ،جبران خسارات وارده توسط هیئتی که از طرف شاروالی یا ولسوالی تشکیل میشود ،تعین میگردد .

(۲) در ترکیب هیئت ،نماینده گان جوانب ذیعلاقه وسائر ادارات با صلاحیت شامل میباشند .

**مادهٔ نزدهم :**

(۱) هرگاه مالک یا استفاده کنندهٔ زمین الی زمان تطبیق استملاک موفق به جمع آوری محصولات زمین وسردرختی نشود،مؤسسه واداره ایکه زمین برای آن داده شده است مکلف است خسارهٔ مالک ویا استفاده کننده را جبران نماید .

(۲) اندازهٔ خساره توسط هیئتیکه از طرف شاروالی و ادارهٔ زراعت وولسوالی تشکیل میشود، بادرنظر داشت ارزش تخم بزری وکود ومصارف آبیاری وسائر خد ماتیکه توسط مالک صورت گرفته تثبیت میشود.

(۳)دخساری اندازه په هیڅ صورتدماحصل دبیی له مجموع څخه چیمالک ئېله ځمکې څخه لاس ته راوړی،زیاتیدلی نشی.

شلمه ماده :

هغه ځمکې چې تراستملاک لاندې راځی، داستملاک اودهغې دبیی په اړه دری میاشتی دمخه مالک یا ګټه اخیستونکي یادهغوی قانوني استازی ته خبر ورکول کیږي ،دتر استملاک لاندی جایداد دبیی اینبودنی (قیمت-ګذاری)دهیئت په غونډه کی،سره له مخکینی خبرتیا،دمالک یاګټه اخیستونکي یادهغوی داستازی، نه ګډون، دهیئت دکاراودطرح(پلان)دتطبیق مانع نه ګرځي.

یوویشتمه ماده :

دهغو ځمکوبدلول(تعویض) چې دمؤسسواو ادارو په واک کې ورکول کیږي اویا په هغو ځمکوکی هغوی ته دتحقیقاتی اوتفحصاتی کارونوداجراء کولوحق ورکول کیږي داړوندو مؤسسواوادارو په واسطه صورت مومي.

(۳) اندازهٔ خساره به هیچ صورت از مجموع قیمت ماحصل که مالک از زمین بدست میآورد،زیاد بوده نمیتواند .

مادهٔ بیستم :

زمینیکه تحت استملاک قرار میگیرد سه ماه قبل به مالک یااستفاده کننده یانمایندهٔ قانونی آنها راجع به استملاک وقیمت آن اطلاع داده میشود ، عدم حضور مالک یا استفاده کننده یا نمایندهٔ آنها باوصف اطلاع قبلی در جلسهٔ هیئت قیمت گذاری جایداد تحت استملاک مانع کار هیئت وتطبیق طرح (پلان) نمیشود .

مادهٔ بیست ویکم :

تعویض زمین های که به اختیار مؤسسات وادارات گذاشته میشود ویادرآن زمین ها،برای آنها حق اجرای کارهای تحقیقاتی و تفحصاتی داده میشود ،توسط مؤسسات وادارات مربوط صورت میگیرد .



## دریم فصل

## وروستني حکمونه

دوه ویشتمه ماده :

(۱)استملاک کوونکي اداره مکلفه ده چي د استملاک په وخت کي،داستملاک شوي ملکیت شرعي او قانوني سندونه له مالک نه واخلي .

(۲)مالک مکلف دي چي داستملاک شوي ملکیت ټول اړوند شرعي اوقانوني سندونه استملاک کوونکي اداري ته وسپاري .

(۳)که چیري په شرعي او قانوني سند کي ددرج شوي ملکیت یوه برخه تراستملاک لاندي راشي داستملاک شوي ملکیت اندازه له اصلي قبالي څخه وضع اودملکیت سندله مالک سره پاتي کیږي.

(۴)دمالک ادعادملکیت دعوض له اخسیتلو اوقبض وروسته داوریدووړنده.

درویشتمه ماده :

دغه قانون له توشیح وروسته نافذاوپه رسمی جریده کی دی خپور شی. ددغه قانون په نافذیدو سره د ۱۳۶۶هـ.ش کال دسرطان دمیاشتي د(۱۰)نیټي په (۶۳۹) ګڼه رسمی جریده کی خپور شوی د ځمکې د استملاک قانون او دهغه په اړوند تعدیلونه اومغائرحکمونه لغوګڼل کیږی .

## فصل سوم

## احکام نهائی

مادهٔ بیست دوم :

(۱)ادارهٔ استملاک کننده مکلف است حین استملاک،اسناد شرعي وقانوني ملکیت استملاک شده را از مالک اخذ نماید.

(۲) مالک مکلف است که اسناد شرعي و قانوني مربوط ملکیت استملاک شده را به ادارهٔ استملاک کنندهٔ تسلیم نماید.

(۳) هرگاه قسمتی از ملکیت مندرج سند شرعي وقانوني تحت استملاک قرار گیرد اندازهٔ ملکیت استملاک شده از قبالهٔ اصلي وضع وسند ملکیت نزدمالک باقي مي ماند.

(۴) ادعاي مالک بعد از اخذ وقبض عوض ملکیت قابل سمع نمی باشد.

مادهٔ بیست وسوم :

این قانون بعد از توشیح نافذ ودر جریدهٔ رسمی نشر گردد وبا انفاذ آن، قانون استملاک زمین منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۶۳۹)مورخ (۱۰) سرطان۱۳۶۶هـ.ش وتعدیلات و احکام مغائرمربوط به آن ملغی شناخته میشود .

# داحتکار د بندولو قانون

## د احتکار د بند ولو قانون

### لومړي فصل

### عمومي حکمونه

**لومړۍ ماده :**

(۱)احتکار په دغه قانون کښي دناروا ګټي اود هیوادپه دننه کي دامارتي تثبیت شوي بيي څخه په لوړه بیه د پلورني په مقصدله عادي اړتیا څخه زیات د عامه اړتیا وړ خوراکي او استهلاکي (لګښتي) موادو زیرمه کول،حصر او پټول دي .

(۲)له اداراواوعام المنفعه موسسونه دموادو،منقولواوغیر منقولو مالونواود نقلیه وسائطو دټکټونوپیرودنه اوددي مادي په لومړي فقره کي‌ددرج شویو مقصدونولپاره دهغو پلورنه هم احتکار دي.

**دوهمه ماده :**

د عامه اړتیا وړ خوراکي او استهلاکي ( لګښتي ) مواد په عمده توګه په دي ډول دي :

- غنم .

## قانون منع احتکار

### فصل اول

### احکام عمومي

**مادهٔ اول :**

(۱)احتکاردراین قانون عبارت از ذخیره،حصرو پنهان کردن مواد ارتزاقي و استهلاکي موردنیازعامه بیش ازاحتیاج عادي به مقصدسود جوئي نامشروع و فروش به قیمت بلند ترازقیمت تثبیت شدهٔ امارتي درداخل کشور میباشد .

(۲)خریداري مواد،اموال منقول وغیرمنقول،تکت وسائط نقلیه ازادارات وموسسات عام المنفعه وفروش آن به مقاصد مندرج فقرهٔ(۱)این ماده نیز درحکم احتکار میباشد.

**مادهٔ دوم :**

مواد ارتزاقي واستهلاکي مورد نیازعامه عمدتاًعبارت است از :

- گندم .

- اوړه .
- وریجې .
- د خوړو ډول ډول غوړي .
- چای او بوره .
- پیاز .
- کچالو .
- مالګه .
- د سونګ لرګي .
- سکاره .
- د سونګ ډول ډول تیل (پټرول، ډیزل، خاکې ).
- ډول ډول صابون .

دریمه ماده :

د دغه قانون په دوه یمه ماده کې د عامه اړتیاوړ درج شویو خوراکي او استهلاکي مواد و فهرست د اړتیا په وخت کې د امارت له خوا نوی کیږي او تعدیلیږي او د ولسیزو خبری وسیلو له لاری خپریږی.

څلورمه ماده :

(۱)دعدلیي وزیرمکلف دی چی ددغه قانون د انساني او شرعی موخو

- آرد .
- برنج .
- انواع روغن غذائي .
- چای و شکر .
- پیاز .
- کچالو .
- نمک .
- چوب محروقاتی .
- ذغال .
- انواع تیل سوخت ( پترول، دیزل، خاک ) .
- انواع صابون .

مادهٔ سوم :

فهرست مواد ارتزاقی و استهلاکی مورد نیاز عامه،مندرج مادهٔ دوم این قانون عند الضرورت از طرف امارت تجدیدوتعدیل گردیده وازطریق وسائل اطلاعات جمعی به اطلاع عامه رسانیده میشود.

مادهٔ چهارم :

(۱)وزیرعدلیه مکلف است بمنظورتطبیق اهداف انسانی وشرعی این قانون هینتی



دعملی کولو په مقصد په مرکز او ولایتونوکی له احتکار سره دمبارزی په نامه هیئت (کمیسیون) چي له دی وروسته په دغه قانون کی د هینت په نامه یادیږی، جوړ کړی .

(۲) په مرکز کي د هینت ترکیب په لاندی ډول دی :

- د څارنوالی په چاروکي د عدلیي وزارت مرستیال د رئیس په توګه .
- د کورنیو چارو وزارت له جنائي جرمونو سره د مبارزی عمومی رئیس د سوداګری،کرني اومالداري دامربالمعروف اونهیعن المنکر دوزارتونو د حمل اونقل (ترانسپورټ) او داستخباراتود عمومی ریاستونو او د کابل ښاروالی واکمن استازی د غړو په توګه .

(۳) په ولایتونو کی د هینت ترکیب په دی ډول دی :

- دولایت والی د رئیس په توګه .
- دولایت مرافعه څارنوال د مرستیال په توګه .

(کمیسیون) را بنام مبارزه با احتکار، در مرکزو ولایات که منبعد در این قانون بنام هینت یاد میشود،ایجاد نماید .

(۲) ترکیب هینت درمرکز عبارت است از :

- مرستیال وزارت عدلیه در امور څارنوالی به حیث رئیس .
- رئیس عمومی مبارزه باجرائم جنائی وزارت اموداخله،نماینده گان با صلاحیت وزارت های تجارت ،زراعت ومالداری امربالمعروف ونهی عن المنکرریاست های عمومیحمل و نقل،استخبارات و شاروالی کابل به حیث اعضاء .

(۳) ترکیب هینت در ولایات عبارت است از :

- والی ولایت به حیث رئیس .
- څارنوال مرافعهٔ ولایت به حیث معاون

-امنیه قوماندان، مستوفی ،د سوداګری کرنی اومالداري ، د امر با لمعروف او نهي عن المنکر د وزارتونو د استخباراتو د عمومي ریاست استازی او ښاروال د غړو په توګه .

پنځمه ماده :

د هیئت عمده موخې (هدفونه ) په دې ډول دی :

۱-دعامه اړتیا وړ خوراکي موادو اودنورولومړنیو موادو په هکله د معلوماتوترلاسه کول چې داشخاصو په واک کې دی .

۲-د عامه اړتیاوړ خوراکي موادواود نورولومړنیوموادو د وړاندې کولو د سیمو څارنه .

۳- د هغو سیمو تثبیتول او پلټنه چې خوراکي مواد او د عامه اړتیا وړ نور لومړني مواد د احتکار په مقصد پکې زیرمه شوي وي .

دکوردپلټنې دغوښتنې(ایجاب)په صورت کې هیئت مکلف دی چې دقانون له حکمونو سره سم دواکمني محکمې اجازه ترلاسه کړي.

- قوماندان امنیه، مستوفی ونماینده گان وزارت های تجارت. زراعت ومالداری،امر بالمعروف ونهی عن المنکر، ریاست عمومی استخبارات و شاروال به حیث اعضاء .

مادهٔ پنجم :

اهداف عمدهٔ هیئت عبارت است از :

۱-کسب معلومات راجع به مواد ارتزاقی وسائرمواد اولیهٔ مورد نیازعامه که درتصرف اشخاص قرار دارد .

۲-نظارت(کنترول)محلات عرضهٔ مواد ارتزاقی ویا سائر مواد اولیهٔ موردنیازعامه .

۳- تثبیت و تفتیش محلاتیکه مواد ارتزاقی و یا سائر مواد اولیهٔ مورد نیاز عامه به مقصد احتکار درآن ذخیره شده باشد .

در صورت ایجاب تفتیش مسکن، هیئت مکلف است طبق احکام قانون اجازهٔ محکمهٔ ذیصلاح را اخذ نماید .



۴- دبازاردحالت، دموادود بیو دلوړیدو دځرنګوالي اودموادود وړاندې کولو اودهغونوروعواملو څېړنه چې د احتکار سبب کیږی.او د لازمو عملي او اغیزمنو تدبیرونو نیول .

۵-داحتکاردزیانونو،اخروی عواقبو.د احتکار په عمل باندي دمرتبو مجازاتوپه هکله داسلامي شریعت ،حنفي فقهي اودنافذوقوانینوله پلوه هرارخیزتبلیغ .

۶- د احتکار پر خلاف دمبارزې په اړه دجرمونو دکشف اوتحقیق او داړوندو اداروموظفینوته دلارښوونو صادرول .

شپږمه ماده :

هیئت دي له احتکار سره د مبارزې اومخنیوي لپاره د خپل کار طرزالعمل اوکړنلاره برابره او عملي کړي .

اوومه ماده :

(۱)دولایتونوهیئتونه مکلف دي چې دخپل کار ریوټونه دکال په ربع کې د مرکز هیئت ته ولیږي.

(۲) دمرکزهیئت رسیدلی ریوټونه ارزیابي کوي

۴- مطالعهٔ وضع بازار، چگونگی صعود قیم و عرضهٔ مواد وسائر عواملی که منجر به احتکار میگردد و اتخاذ تدابیر عملی ، مؤثرو لازم.

۵- تبلیغ همه جانبه از نگاه شریعت اسلامی ،فقه حنفی وقوانین نافذه راجع به اضراراحتکار.عواقب اخروی ومجازات مرتب برعمل احتکار .

۶- صدورهدایات ودساتیربه مؤظفین کشف وتحقیق جرائم وادارات ذیربط دررابطه به مبارزه علیه احتکار .

مادهٔ ششم :

هیئت جهت مبارزه و جلوگیری از احتکار ، طرزالعمل و برنامهٔ کار خودرا ترتیب و تطبیق نماید.

مادهٔ هفتم :

(۱)هیئت های ولایات مکلف اند گزارش کارخود را در هرربع سال به هیئت مرکزارسال بدارند.

(۲) هیئت مرکز گزارش های

توحيدوی ، سموی ئي او د لاربښوونی د تر لاسه کولو په مقصد ئي د اسلامی امارت مقام ته وړاندی کوی .

(۳)د ولايتونو دهيئتونو د اجرآتو او فعاليتونو نظارت د مرکز د هيئت په غاړه دی .

**اتمه ماده :**

هيئت مکلف دی چی احتکار شوی مواد له کشف او ترلاسه کولو وروسته دمحتکرله واک نه وباسی او په څلورويشتوساعتوکی ئي امارتي خوندی سيموته وليږدوی او د پلورنی د بيی په ټاکنی سره ئي مستهلکينوته د هغو د وړاندی کولو په هکله دواکمنی محکمی اجازه تر لاسه کړی .

**نهمه ماده :**

داحتکارشويوموادودپلورنی‌له پلوه ترلاسه شوی وجوه چی ددغه قانون د اتمی مادی له حکم سره سم تر لاسه کيږی د هيئت له لاری په بانک کی د امانت په حساب کي ساتل کيږی ، او خاوند يا د هغه قانونی-

واصله را ارزيابی، توحيد وانسجام داده، به مقام امارت اسلامی غرض اخذ هدايت تقديم ميدارد .

(۳) نظارت از اجراات و فعاليت های هيئت های ولايات به عهدهٔ هيئت مرکز ميباشد .

**مادهٔ هشتم :**

هيئت مکلف است بعد از کشف و دستيابی،مواداحتکارشده رااز تصرف محتکرخارج ودرمدت(۲۴) ساعت به محلات مصئون امارتی انتقال واجازهٔ محکمهٔ ذيصلاح را مبنی بر عرضهٔ آن به مستهلکين با تعيين نرخ فروش حاصل نمايد .

**مادهٔ نهم :**

وجوه حاصله از فروش مواد احتکار شده که طبق حکم مادهٔ هشتم اين قانون بدست ميآيد،بنه حساب امانت در بانک نگهداری و اعادهٔ آن بعد ازوضع مصارف، به مالک ويا



ممثل ته ئی بيرته ورکول،دلګښتونوله وضع کولو وروسته د محکمی له حکم سره سم صورت مومي .

**لسمه ماده :**

د دغه قانون په لومړی ماده کی ددرج شويو موادو احتکارجرم دی او مرتکب ته ئي د قانون له حکمونو سره سم سزا ورکول کيږی .

**دوه يم فصل**

**د زيرمی اندازه او مجاز معيارونه**

**يوولسمه ماده :**

دکارکوونکو،بزګرانو،قرارداديانو دکارخانو(فابريکو)،خصوصی مؤسسو او دهيوادنورواتباعودکلني ګټي اخيستنی په مقصدارتياوړلومړنيوموادو د زيرمی اندازه ددغه قانون په واسطه تنظيميږی.

**دوولسمه ماده :**

د اړتيا وړ لومړنيو موادو د زيرمی د اندازی په تثبيتولوکی لاندی معيارونه په پام کی نيول کيږی :

**الف :د کارکوونکو اودهيواد د اتباعو لپاره:**

ممثل قانونی آن مطابق حکم محکمه صورت ميګيرد.

**مادهٔ دهم :**

احتکار مواد مندرج مادهٔ اول اين قانون جرم بوده مرتکب طبق احکام قانون مجازات ميګردد .

**فصل دوم**

**مقدار ذخيره و معيارهای مجاز**

**مادهٔ يازدهم :**

مقدارذخيرهٔ مواد اوليهٔ مورد نياز، به منظوراستفادهٔ سالانهٔ کارکنان دهقانان، قراردادی ها، کارخانه ها مؤسسات‌خصوصی‌وسائراتباع کشور توسط اين قانون تنظيم ميګردد .

**مادهٔ دوازدهم :**

در تثبيت مقدار ذخيرهٔ مواد اوليهٔ مورد نياز ، معيار های ذيل رعايت مي ګردد :

**الف : برای کارکنان واتباع کشور:**

۱-غنم ، اوړه او وريجې په کال کې ديوتن د زيرمې معيار (۲۴۰) کيلو ګرامه .
۲-ډول ډول خوراکې غوړی په کال کې ديوتن دزيرمې معيار(۱۴)کيلو ګرامه.
۳-بوره په کال کې د يوتن د زيرمې معيار (۲۰)کيلو ګرامه .
۴-چای په کال کې ديوتن د زيرمې معيار (۲) کيلو ګرامه .
۵-پياز په کال کې د يوتن د زيرمې معيار (۱۸) کيلو ګرامه .
٦-کچالو (پټاټي) په کال کې د يوتن د زيرمې معيار (۲۴) کيلو ګرامه .
۷-مالګه په کال کې د يوتن د زيرمې معيار (۲) کيلو ګرامه .
۸-د سونګ مواد په کال کې د يوتن دزيرمې معيار(۴۰۰) کيلو ګرامه .
۹-سکاره په کال کې د يوتن د زيرمې معيار (۲۰۰)کيلو ګرامه .
۱۰- دپټرولو، ډيزلو او د خاورو د تيلو په ګډون د سونګ ډول ډول تيل په کال کې د يوتن دزيرمې

۱-ګندم ، آرد، برنج ، معيار ذخيرهٔ فی نفر درسال (۲۴۰) کيلو ګرام .
۲-انواع روغن غذائی، معيار ذخيرهٔ فی نفر در سال (۱.۴) کيلو ګرام.
۳- شکر،معيارذخيرهٔ فی‌نفردرسال(۲۰)کيلو ګرام.
۴-چای،معيار ذخيرهٔ فی نفر در سال (۲) کيلو ګرام .
۵-پياز، معيار ذخيرهٔ فی نفر در سال (۱۸) کيلو ګرام .
٦- کچالو.معياز ذخيرهٔ فی نفر در سا ل (۲۴) کيلو ګرام .
۷-نمک، معيار ذخيرهٔ فی نفر در سا ل (۲) کيلو ګرام .
۸-چوب محروقاتی، معيار ذخيرهٔ فی نفر در سال (۴۰۰) کيلو ګرام .
۹-ذغال، معيار ذخيرهٔ فی نفر در سا ل (۲۰۰) کيلو ګرام .
۱۰-انواع تيل سوخت پترول ديزل وخاک معيار ذخيرهٔ فی نفر در



معيار(٦۰)ليټره .
۱۱-ډول ډول صابون په کال کې د يوتن د زيرمې معيار (۱۲) چکې .
ب :دکارخانو(فابريکو) او خصوصی مؤسسو لپاره ددي مادي په الف جزء کي ددرج شويو موادو زيرمه د دريو مياشتو لپاره د يوه کار کوونکی د نيمائی معيار له مخې مجاز ده .
ج :بزګرانوته د هغې ځمکې د ساحې له پلوه چې کرهنه پکې کيږی دغه لاندي اندازه په يوجريب کی دتخم دزيرمې په توګه مجازده :
مواد :دکر کيلي وړديوه جريب معيار:
غنم :۲۸ کيلو ګرامه .
کچالو (پټاټي) :۲۵ کيلو ګرامه .
شولی :۱۴ کيلو ګرامه .
د :د قرار داد يانو لپاره :
قرار داديان په قراردادکی دټاکلی اندازی او د هغو مکلفيتونو له مخې

سال (٦۰) ليتر .
۱۱-انواع ضابون، معيار ذخيرهٔ فی نفر در سال (۱۲) کلچه .
ب : براي کارخانه هاو مؤسسات خصوصی ذخيرهٔ مواد فوق الذکر به رويت مناصفهٔ معيار في نفر کارکن براي مدت سه ماه مجاز است.
ج :براي دهاقين نظربه ساحهٔ زمين که تحت کشت قرارميګيرد،مقدار ذيل به حيث ذخيرهٔ تخميانه درفي جريب مجاز مي باشد:
مواد:معيار في جريب قابل زرع:
ګندم:۲۸ کيلو ګرام.
کچالو:۲۵ کيلو ګرام.
شالي : ۱۴ کيلو ګرام.
د :براي قراردادي ها:
قراردادي ها نظر به مقدار معين شامل قرارداد

چی د امارتی ادارو او دغیر امارتی مؤسسو د اړتیا وړ موادو د تأمینولو په خاطر ئي لري، کولي شي په عقد شوي قرار داد کی ددرج شویو تحویلولو وړ معیار په پام کی نیولو سره د موادو زیرمه ولری او اضافی ئی احتکار بلل کیږی.

**دیارلسمه ماده :**

د افغانستان اسلامی امارت اتباع دلاندی حکمونو په رعایتولو مکلف دی :

۱- هغه اشخاص او مؤسسی چی د اړتیا وړ لومړنیو موادو په سوداګری بوخت دی ، مکلف دی چی لومړنی مواد په اړوندو مارکیټونو کی زیرمه کړی ، که چیری له ټاکلو مارکیټونو پرته په نورو ځایونو کی زیرمی ولری د دغو سیمو د زیرمه تونونو (ګدامونو) د شته والی په هکله دی د دغه قانون د څلورمی مادی په دوه یمه او دریمه فقره کی درج شویوهیئتونوته لیکلی‌خبر ورکړی.

۲- هغه هټیوال ( دکانداران ) او - ومکلفیت هاي که به خاطرتأمین مواد مورد نیاز ادارات امارتی و مؤسسات غیرامارتی‌دارند، میتوانندبا درنظرداشت معیارتحویل دهی‌مندرج قراردادمنعقده ذخیره مواددداشته باشندومقدارمازادآن احتکارشمرده میشود.

**مادۀ سیزدهم :**

اتباع امارت اسلامی افغانستان به رعایت احکام اتی مکلف اند:

۱- اشخاص و مؤسساتیکه به تجارت مواد مورد نیاز اولیه اشتغال دارند،مکلف اند مواد اولیه را در مارکیت های مربوط ذخیره نمایند و در صورتیکه ذخائرشان در سائر محلات غیر از مارکیت های معینه موجودباشد،از موجودیت آن محلات و ګدام هابه هیئت های مندرج فقرات( ۲و۳ )مادۀ چهارم این قانون کتبًا اطلاع دهند .

۲- دکانداران و مغازه دارانیکه



مغازه لرونکی چی د اړتیاوړلومړنیو موادو وراندی کوونکی دی، که چیری پراړوندپلورنځی او هتی برسیره بله زیرمه هم ولری ،ددی مادی په لومړی جزء کی د درج شوي حکم په رعایتولو مکلف دی .

۳- هغه سوداګر او اشخاص چی په عمده ډول د لومړنیو موادو په پیرودنه او پلورنه بوخت دی ، مکلف دی چی خپلو زیرمتونونو ته د موادو دلیږدونی له نېټی نه وروسته له یوی میاشتی څخه تر څلویښتو ورځوپوری بازار ته دهغو په وړاندی کولو لاس پوری کړی له دی پرته زیرمه شوی مواد احتکار بلل کیږ ی .

۴- هغه مغازه داران او هټیوال چی دوړاندی کولو په مقصد په خپلو هټیو او پلورنځیو کی مواد ، ونه لری مګر په اړوندو زیرمتونونوکی ئی مواد موجود وی ، ددوی‌په زیرمتونونوکی زیرمه شوی مواد احتکار بلل کیږی .

۵- هغه کسب ګر چی دخپلو تولیداتو عرضه کنندۀ مواد مورد نیاز اولیه میباشند، درصورتیکه علاوه بر مغازه و دکان مربوط، محل ذخیرۀ دیګری نیز داشته باشند، مکلف به رعایت حکم مندرج جزء (۱) این ماده میباشند .

۳- تاجران و اشخاصیکه به صورت عمده به خرید وفروش مواد اولیه اشتغال دارند، مکلف اند طی مدت یک ماه الی‌چهل روز از تاریخ انتقال مواد به ګدام هاي خویش،بته عرضه آن به بازار اقدام نمایند درغیر آن اموال ذخیره شده احتکار شمرده مي شود .

۴- مغازه داران ودکاندارانیکه مواد اولیه را در دکانها ومغازه های خویش جهت عرضه موجود نداشته ولي در ګدام مربوطۀ خویش موجود داشته باشند، مقدار موجود ګدام شان احتکار شمرده مي شوند .

۵- کسبه کارانیکه براي تولیدات

لپاره دسوداگري دوزارت یا له نورو امارتي مراجعو نه دارتیا وړ لومړني مواد تر لاسه کوي . که چیري تولیدي دستگاه ئي له شرعي عنر څخه پرته په عملي ډول فعاله نه وي اودارتیا وړ لومړنیو موادو ونډه له دغه منابعو نه واخلي، د دوي په پلورنځي او زیرموکي دارتیا وړ لومړنیو موادو شته والي احتکار بلل کیږي .

٦- هغه ډوډۍ پخوونکي چه پخپلي نانوائي اوهټۍ کي ئي دډوډۍ پخولو لپاره دامارتي منابعو لخوا ویشل شوي اوړه پټ کړي وي، محتکر بلل کیږي.له ونډي نه بهر داوړو دلگښت اته ورځني زیرمه له دیحکم څخه مستثنیٰ ده .

### دریم فصل

### عدلي څارنه

**څوارلسمه ماده :**

دجرمونو دکشف اداري په عمومي توگه او هیئت په خاص ډول مکلف دي چي دقانون دحکمونو له مخي داحتکار دسیمو په تثبیتولو او –

خویش از وزارت تجارت یا سائر مراجع امارتي مواد مورد نیاز اولیه را اخذ مي دارند ، در صورتیکه دستگاه تولیدي آنها عملاً بدون عذر شرعي فعال نه باشد وسهمیهٔ مواد مورد نیاز اولیه را از آن منابع اخذ نمایند . مواد مورد نیاز اولیهٔ موجود مغازه وذخائر آنها احتکار محسوب مي شود .

٦-خبازانیکه درمغازه یادکان خبازی خویش آردتوزیع شده از طرف منابع امارتي براې پخت نان راپنهان کرده باشند،محتکر شناخته میشوند. ذخیرهٔ هشت روزه مصرف آرد خارج سهمیه، ازین حکم مستثنیٰ است .

### فصل سوم

### تعقیب عدلی

**مادهٔ چهاردهم :**

ادارات کشف جرائم به صورت عموم وهیئت به صورت خاص مکلف می باشند تا طبق احکام قانون در تثبیت محلات احتکار



د محتکرینو په تشخیصولو کي په هراړخیز ډول اقدام وکړي او له ځنډ پرته په قانوني میعاد کي دخپلو اجراآتو دنتیجو په هکله په رسمي ډول اړوندي مرجع ته خبر ورکړي .

ددي مادي دحکم په عملي کولو کي هرراز ځنډ او بي پروائي دجزائي مسئولیت سبب کیږي .

**پنځلسمه ماده :**

(۱) په دغه قانون کي د درج شوي احتکار دتور تحقیق، تعقیب او څیړنه د قانون د حکمونو سره سم تر سره کیږی .

(۲) د احتکار د تور قضائی څیړنه د افغانستان اسلامی امارت د ستری محکمي د عامه امنیت د محکمو واک دی .

**شپاړسمه ماده :**

د احتکار د موضوعگانو قضائی تحقیق، تعقیب او څیړنه پبه سملاسی ډول او له نوبت پرته تر سره کیږی .

و تشخیص محتکرین به صورت همه جانبه اقدام و مرجع مربوطه را از نتائج اجراآت خود به میعاد قانونی و بدون تأخیر رسماً اطلاع دهند .

هر نوع تأخیر و تعلل در تطبیق حکم این ماده موجب مسئولیت جزائی میباشد .

**مادهٔ پانزدهم :**

(۱) تحقیق ، تعقیب و رسیده گی به اتهام احتکار مندرج این قانون مطابق احکام قانون صورت میگیرد .

(۲) رسیده گی قضائی به اتهام احتکار از صلاحیت محاکم امنیت عامهٔ ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان میباشد .

**ماده شانزدهم :**

تحقیق، تعقیب و رسیده گی قضائی به موضوعات احتکار طور عاجل و بدون نوبت صورت میگیرد .

اووه لسمه ماده :

د محتکرسزا د حکم له قطعیت وروسته د دوله ئیزو خبری وسیلو له لاری خپریږی .

اتلسمه ماده :

محتکر په لاندی دول تعزیریږی :

۱- که چیری د احتکار شوی مال بیه له پنځه سوه زرو افغانیو نه تر پنځو ملیونو افغانیو پوری وی ، احتکار شوی جنس ددغه قانون د اتمی او نهمی مادی له حکمونو سره سم پلورل کیږی ، تر لاسه شوی پیسی ئی خاوند ته ورکول کیږی او محتکر په شرعی تعزیر محکومیږی .

۲- که چیری د احتکار شوی مال بیه له پنځو ملیونو افغانیونه تر پنځوسو ملیونو افغانیو پوری وی،احتکار شوی جنس ددی مادی د لومړی جزء له حکم سره سم پلورل کیږی او له دی پلوه تر لاسه شوی پیسی ئی‌خاوند ته ورکول کیږی او محتکر د شرعی تعزیرور ګرځی .

مادهٔ هفدهم :

مجازات محتکر بعد از قطعیت حکم ذریعهٔ وسائل اطلاعات جمعی نشر میگردد .

مادهٔ هجدهم :

محتکر قرار آتی تعزیز میگردد :

۱- درصورتیکه قیمت مال احتکار شده از پنجصد هزار افغانی الیٰ پنج ملیون افغانی باشد، جنس احتکار شده طبق‌احکام مادهٔ هشتم ونهم این قانون به فروش رسانیده شده و پول ماحصل به مالک پرداخته میشود و محتکر به تعزیر شرعی محکوم میگردد.

۲- درصورتیکه قیمت مال احتکار شده پنج ملیون افغانی الیٰ پنجاه ملیون افغانی باشد،جنس احتکار شده طبق حکم جزء (۱) این ماده به فروش رسانیده شده و پول ماحصل به مالک پرداخته میشود و محتکر مستوجب تعزیر شرعی میبا شد .



۳- که چیری د احتکار شوی مال بیه له پنځو سو ملیونو افغانیو نه زیاته وی احتکار شوی جنس ددی مادی د لومړی جزء له حکم سره سم پلورل کیږی ترلاسه شوی پیسی ئی خاوند ته ورکول کیږی او محتکر د جرم د ارتکابیه حالاتو له په پام کی نیولو سره د اړوندی محکمی له لاری په شرعی تعزیر محکومیږی .

۴- هغه شخص چی له یوه ځل نه ئي زیات د احتکار عمل تر سره کړی وی په دی صورت کی هم د جرم د کولو د شدت حالت په پام کی نیول کیږی او مرتکب په سخته شرعی سزا محکومیږی .

نولسمه ماده :

ددي قانون په (۱۸) ماده کي درج شوي داحتکار شويو مالونو بيه (قیمت) هرکال دهیئت (کمیسیون ) په واسطه ټاکل کیږي او دوزیرانو شورئ له منظوری وروسته دوله ایزو خبري وسائلو له لاري عامي خبرتیاته رسول کیږي .

۳- درصورتیکه قیمت مال احتکار شده متجاوز از پنجاه ملیون افغانی باشد ، جنس احتکار شده مطابق حکم جزء (۱) این ماده به فروش رسیده پول ماحصل به مالک پرداخته شده و محتکر بنا درنظرداشت حالات ارتکابیهٔ جرم از طریق محکمهٔ مربوطه به تعزیر شرعی محکوم میگردد .

۴- شخصیکه عمل احتکار را بیش از یک مرتبه مرتکب شده باشد دراین صورت نیز حالت شدت ارتکاب جرم در نظر گرفته شده مرتکب به مجازات شدید شرعی محکوم میگردد .

مادهٔ نزدهم :

قیمت اموال احتکار شدهٔ مندرج مادهٔ (۱۸) این قانون همه ساله توسط هیئت (کمیسیون ) تعین وبعد از منظوری شورای وزیران از طریق وسائل اطلاعات جمعی به اطلاع عامه رسانیده می شود.

**شلمه ماده :**

که چیری د احتکار جرم دیوی ډلی اشخاصو (باندو) له خوا ترسره شوی وی محتکرین په ټولو احوالو کی په سخته شرعی سزا محکومیږی .

**یو ویشتمه ماده :**

هغه شخص چی د قحطی ، وچکالی جګړي یا دهیواد داتباعو ژوندانه ته دزیان رسولو په مقصد داضطرار په حالت کي داحتکار په عمل لاس پوري کړي ، په ټولو احوالو کي محتکر په سخته شرعي سزا محکومیږي .

**دوه و یشتمه ماده :**

که چیري دپلورنځي لرونکي (مغازه دار)، تحویلدار ، زیرمه تونوال (ګدام دار)، خزانه دار یادعامه خدمتونو نور مؤظفین له وظیفوي واک نه په ناوړي استفادي سره داحتکار اویا احتکار ته دزمیني برابر ولو سبب شيءپه ټولو احوالو کي مرتکب ددغه قانون په

**مادهٔ بیستم :**

درصورتیکه جرم احتکارتوسط جمعیت اشخاص(باند)صورت گرفته باشد،محتکرین درهمه احوال بهاشد مجازات شرعی محکوم میگردند .

**مادهٔ بیست ویکم :**

شخصیکه احتکار رادر زمان قحطی خشکسالی وجنگ یا حالت اضطرار به منظور صدمه رسانیدن به زنده گي اتباع کشور مرتکب شود در همه احوال محتکر به اشد مجازات شرعی محکوم میگردد .

**مادهٔ بیست ودوم :**

هرگاه مغازه دار ، تحویل دار گدام دار و خزانه دار یا سائر مؤظفین خدمات عامه باسوء استفاده از صلاحیت وظیفوی ، مرتکب احتکار ویا زمینه ساز احتکار گردد در همه احوال مرتکب به حد اکثر مجازات



موادو کي د درج شوي سزا په زیاته اندازه محکومیږي .

خلورم فصل

وروستني حکم

**در ویشتمه ماده :**

(۱) دغه قانون د توشیح له نیټي څخه نافذ او په رسمي جریده کي دي خپور شي او د دولة نیزو خبري وسیلو په واسطه دي هم دټولوپه خبرتیاورسول شي.

(۲)ددغه قانون په نافذیدو سره داحتکار دبندولو هغه قانون چي د۱۳۷۴هـ.ش کال دوري (حمل) دمیاشتي په یو دیرشمه نیټه درسمي جریدي په(۷۷۳) پرله پسي گڼه کي خپور شوي دي او ددغه قانون په خلاف دنورو تقنیني سندونو حکمونه لغوه ګڼل کیږي.

مندرج مواد این قانون محکوم میگردد .

فصل چهارم

حکم نهائی

**مادهٔ بیست وسوم :**

(۱) این قانون از تاریخ توشیح نافذو در جریدهٔ رسمي نشر و توسط وسائل اطلاعات جمعي به اطلاع عامه رسانیده شود .

(۲) با انفاذ این قانون ، قانون منع احتکار منتشرهٔ شمارهٔ مسلسل (۷۷۳) مؤرخ ۳۱ حمل ۱۳۷۴هـ.ش جریدهٔ رسمی واحکام سائر اسناد تقنیني مغائراین قانون ملغي است .

# دښارونو د ښیرازي او تنظیف مقرره

د ښارونو د ښیرازی او تنظیف مقرره

لومړی فصل

عمومي حکمونه

لومړی ماده :

دغه مقرره د ښارونو د نظافت او ښیرازی د چارو د تنظیم په منظور وضع شویده .

دوه یمه ماده :

د ښارونو دتنظیف او ښیرازی اړوندي چاری ددغی مقرری د حکمونو مطابق د ښاروالی لخوا د اړوندو نورو ادارو د همکاری په جلبولو سره ترسره کیږي .

دریمه ماده :

(۱)ښاروالی د دغي مقرری د حکمونو د تفهیم او روښانه کولو او په ښارونوکی د نظافت او ښیرازی درعایتولو په خاطر د ډله ایزو اړیکو د وسیلو له لاری اغیزمن تبلیغات خپروی .

(۲)د اطلاعاتواوفرهنگ وزارت د ډله ایزواړیکو اداري اووسائل مکلف

مقررهٔ تنظیف و سرسبزی شهرها

فصل اول

احکام عمومی

مادهٔ اول :

این مقرره به منظور تنظیم امورنظافت و سرسبزی شهر ها وضع گردیده است .

مادهٔ دوم :

امورمربوط به تنظیف وسرسبزی شهر هاطبق احکام این مقرره از طرف شاروالی با جلب همکاری سائر ادارات ذیربط انجام میگردد .

مادهٔ سوم :

(۱)شاروالی به خاطر تفهیم وتوضیح احکام این مقرره،رعایت نظافت و سر سبزی در شهر ها، تبلیغات موثري را از طریق وسائل ارتباط جمعی به نشر میرسا نـد .

(۲)ادارات و وسائل ارتباط جمعی وزارت اطلاعات و فرهنگ مکلف

دې چې د ښارونو او سیمو د نظافت او ښیرازۍ د تبلیغ په هکله له ښاروالۍ سره همکاري وکړي .

## دوه یم فصل

## تنظیف او پاک کاري

**څلورمه ماده :**

ښاروالي د تنظیف په چارو کې د لاندې مکلفیتونو لرونکې ده :

۱- په خپل وخت د کثافاتو راټولول لیږدول او ښخول .

۲- په ټاکلو ځایونو کې د تنظیفاتي بیرلونو ایښودل چې هلته دکثافاتو د لیږدونې نقلیه واسطې تګ راتګ وکولای شي .

۳- د هغه اجرت په مقابل کې چې د قانون په واسطه ټاکل کیږي داوسیدنې د ځایونو د بیت الخلاوو(بدرفتونو) د کثافاتو پاکول او لیږدول .

**پنځمه ماده :**

ښاریان ،اداري، مؤسسې او تصدۍ لاندې مکلفیتو نه لري :

اند تا در امر تبلیغ راجع به نظافت و سرسبزی شهر ها و محلات با شاروالی همکاری نمایند .

## فصل دوم

## تنظیف و پاک کاری

**مادهٔ چهارم :**

شاروالی در امور تنظیف دارای مکلفیت های ذیل میباشد :

۱- جمع آوری ، انتقال و دفن به موقع کثافات .

۲- گذاشتن بیرل های تنظیفاتی در جاهای معین، که وسائط انتقال کثافات درآن رفت و آمد کرده بتواند .

۳- پاک کاری و انتقال کثافات بدرفت های محلات مسکونی در برابر اجرتی که توسط قانون تعین میشود.

**مادهٔ پنجم :**

همشهریان،ادارات،مؤسسات وتصدی هادارای مکلفیت های ذیل میباشند :



۱-په ټاکلو ځایونو او یا په تنظیفاتي بیرلونو کې د فاسدو او اضافي موادو اچول چې په همدې مقصد ایښودل شوي دي .

۲-د هغو ساحو بیا ودانول چې دارتیا له مخې د ښاروالۍ دمخکنۍ اجازې مطابق کیندل شوي وي .

۳- د اړونده ودانیزو (ساختماني) مواد و او ویجاړو شویو ودانیو دبقایاو لیږدول .

۴- په خپلو وسائطو یا د ښاروالۍ دوسائطو په واسطه د اړونده ودانیو د بیت الخلاوو( بدرفتونو ) د څاګانو تشول او پاکول .

۵- د اړوندو ودانیو او ساحو د پاکۍ (نظافت ) تأمینول .

**شپږمه ماده :**

اداري، مؤسسې او تصدۍ مکلفې دي چې د اړوندو نقلیه واسطو د تګ راتګ لارې او تم ځایونه د تعلق تر حدودو پورې قیرریزي یا پاخه (کانکریټ)کړي .

۱- انداختن مواد فاسد و اضافی درجاهای معین یا در بیرل های تنظیفاتی که به همین مقصد گذاشته شده است .

۲- اعمار مجدد ساحاتیکه بنابر ضرورت مطابق اجازهٔ قبلی شاروالی کندن کاری شده باشد .

۳- انتقال مواد ساختمانی و بقایای ساختمان های تخریب شدهٔ مربوطه .

۴- تخلیه و پاک کاری چاه های بدرفت تعمیرات مربوط توسط وسائط خود ویا وسائط شاروالی .

۵- تأمین نظافت تعمیرات و ساحهٔ مربوط .

**مادهٔ ششم :**

ادارات ،مؤسسات و تصدی ها مکلف اند ، توقفگاه ها و راه های عبور و مرور وسائط نقلیهٔ مربوطه را تا حدود تعلق قیرریزی یا پُخته (کانکریت) نمایند.

دریم فصل

ښیرازی .

**اوومه ماده :**

اداري ، مؤسسي او تصدۍ د خپلو اړوندو ساحو په ښیرازۍ مکلفي دي .

**اتمه ماده :**

ښاروالی د عمومی طرحې (ماسترپلان) او د ښاری تفصیلی طرحو (پلانونو) مطابق ، عمومی‌بڼونه ګلدانۍ ، سړکونه . څراغونه ترافیکی جزیرې ، د تفریح ځایونه او ګلخاني جوړوی او بیائی رغوی ،اصلاح کوي او پراختیا ورکوی او له هغو څخه ساتنه کوی .

**نهمه ماده :**

د ماستر پلان او د ښاری تفصیلي پلانونو په ساحه کی د زینتی نیالګیو لیږدول ، پیرودل پلورل ، ویشل اوایښودل دکرنې اومالداري وزارت او د ښاروالی له لاری تنظیمیږی .

فصل سوم

سر سبزی

**مادهٔ هفتم :**

ادارات ،مؤسسات و تصدی‌ها مکلف به سرسبزی ساحهٔ مربوط میباشند .

**مادهٔ هشتم :**

شاروالی طبق طرح عمومی (ماستریلان) و طرح (پلان) های تفصیلی شهری باغ های عمومی گلدانها، سرکها، چراغ ها جزائر ترافیکی،تفریح گاه ها و گلخانه ها را ایجاد ، احیا ، اصلاح و انکشاف بخشیده و از آن مواظبت مینماید .

**مادهٔ نهم :**

امورمربوط به انتقال،خرید،فروش،توزیع وغرس نهالهای زینتی‌درساحهٔ ماستر پلان و پلان های تفصیلی شهری از طریق شاروالی ووزارت زراعت ومالداري تنظیم میگردد.



**لسمه ماده :**

د عمومی بڼونو او شنو ساحو د وضعی د ښه والی په منظور ،د ښاروالی فنی هیئت د کرنی او مالداري وزارت په همکاری وچی یا د اصلاح وړ ونسی په نښه او د هغو د غوڅولویا اصلاح په هکله اقدام کوی .

**یوولسمه ماده :**

د شنو ساحو او د عمومی او فرعی واټونو په څنګ کی د میوه لرونکو ونو او عامه ګلخانو څخه ګټه اخیستنه د ښاروالی دنده ده .

**دوولسمه ماده :**

ښاروالی دڅارنی دبرجونو، سړکونو، د برق د شبکو ، داوبو رسولو د شبکو کټارو،دترافیکی څراغونو. د تفریح د ځایونو ، د اوبو د فوارو او د ښار او د سیمو دنورو تأسیساتو او ودانیو په ساتنه او څارنه مکلفه ده او دهغو ترمیم په خپل وخت تر سره کوی .

**مادهٔ دهم :**

به منظور بهبود وضع باغ های عمومی و ساحات سبز، هیئت فنی شاروالی اشجار خشک و یا قابل اصلاح را به همکاری وزارت زراعت ومالداري نشانی و در مورد قطع و یا اصلاح آن اقدام مینمایند .

**مادهٔ یازدهم :**

بهره برداری از اشجار مثمرساحات سبز و کنار جاده های عمومی وفرعی وگلخانه های عامه وظیفهٔ شاروالی میباشد .

**مادهٔ دوازدهم :**

شاروالی مکلف به حفظ ومراقبت ساحهٔ مربوط برج های ترصد. سرکها شبکه های‌برق،شبکه های آبرسانی،کتاره ها، چراغ های ترافیکی ، تفریح گاه ها . فواره های آب وسائر تاسیسات و ساختمان های شهر و محلات بوده وترمیم به موقع آنها را انجام میدهد .

دیارلسمه ماده :

د شنو ساحو د زینتي ونو او بوټو غوڅول ، ماتول او ورته ضرر رسول د چمنونو ، عمومي بڼونو ، ګلدانونو سړکونو او ګلخانو ویجاړول او په شنو ساحو کې د څارویو څرول منع دی .

څوارلسمه ماده :

په ماستر پلان او ښاري پلانونو کې شامل له شنو ساحو څخه د پخپل سر کورونو او هټیو د جوړولو یا په موقت یا دائمي توګه د تجارتي یا نورو مقاصدو لپاره د کانتینرونو او غرفو د اینبودلو په منظور استفاده کول په هر شکل چې شنو ساحوته تاوان ورسوي ،منع دی .

څلورم فصل

تأدیبي حکمونه

پنځلسمه ماده :

هغه څوک چې په سړکونو،عامولارو، میدانونو

مادهٔ سیزدهم :

قطع ، شکستاندن ، آسیب رسانیدن به اشجار و بته های زینتی ساحات سبز ، تخریب چمن زارها ، باغ های عمومی ، گلدان ها ،سرکها گلخانه ها و چراندن مواشی در ساحات سبز ممنوع است.

مادهٔ چهاردهم :

استفاده از ساحات سبز شامل ماسترپلان و پلان های شهری به منظور اعمار منازل خود-سر ، دکان ها ، گذاشتن غرفه ها و کانتینر ها و سائر مقاصد تجارتی طور موٌقت یا دائمی بهر شکلی که به ساحات سبز صدمه برساند ممنوع است .

فصل چهارم

احکام تأدیبی

مادهٔ پانزدهم :

شخصیکه درسرک ها،راه های عام



د تفریح په ځایونو ، سیندونو، ویالو او کوڅنیو ویالوکې فاسد مواد ، کثافات او د جارو څاورې چې د سیمې نظافت خراب کړي واچوي، تأدیبیږي .

شپاړسمه ماده :

هغه شخص چې د عمومي واټونو سړکونو اوکوڅوداوبو لارې (آب رو) بند کړي،مکلف دی چې سړک اوکوڅه پاک کړي.پههغه صورت کې چې دښاروالۍ لخوا د لګښتونو غوښتنه وکړي،دخسارېپه جبران مکلف دی.

اوو لسمه ماده :

هغه شخص چې په شنو ساحوکې دونو څانګې غوڅې او یاونو ته زیان ورسوي ، د تأدیب وړ دی .

اتلسمه ماده :

هغه شخص چې خپلې نقلیه واسطې یا څاروی په تفریح ځایونو ګلدانونو او شنو ساحو کې د ننه کړي، تأدیبیږي .

میدان ها ، تفریحگاه ها ، دریا ها جوی ها و جویچه ها مواد فاسد کثافات و خاک زوبه ها را که نظافت محل را خراب سازد،بیاندازد تأدیب میشود .

مادهٔ شانزدهم :

شخصیکه آب روعمومی،جاده ها سرکها ، و کوچه ها را مسدودنماید مکلف است که سرک وکوچه راپاک کاری کند.در صورتیکه مصارف را ازطرف شاروالی ایجاب نماید،مکلفبه جبران خسارهمیباشد.

مادهٔ هفدهم :

شخصیکه در ساحات سبز شاخهٔ درختان را قطع و یا اشجار را متضرر سازد ، مستوجب تأدیب مي باشد .

مادهٔ هجدهم :

شخصیکه مواشی یا وسائط نقلیهٔ خویش را در تفریح گاه ها گلدانها و ساحات سبز داخل نماید تأدیب میشو د .

نولسمه ماده :

هغه شخص چې د ښار زينتي بوټي او ګلونه تر پښو لاندې کړي تأديبيږي او د زيان په جبران مکلف کيږي .

شلمه ماده :

هغه شخص چې د ښاروالۍ اړونده تبليغي لوحه عمداً تلف کړي ، مکلف دی چې لوحه تجديد کړي .

يوويشتمه ماده :

د سرايونو، آپارتمانونو،حمامونو او دهغو ودانيو مالکين او استوګن چې دخپل ملکيت په مخامخ ساحه کې کثافات واچوي او يا ناولو (کثيفو اوبوته جريان ورکړي او د تنظيف د وضعې د خرابۍ او د خلکو د خوروني باعث وګرځي ، مکلف دی چې په خپل لګښت کثافات او د کثافاتو دوتلو لارې پاکې کړي .

دوه ويشتمه ماده :

د سراى ، آپارتمان او تعمير هغه مالکين چې خپلې اړوندې دبيت الخلاء (بدرفت )څاګانې يا بيت الخلا ګانې په

مادهٔ نزدهم :

شخصيکه بته های زينتی وګل های شهر را پامال نمايد،تأديب و مکلف به جبران خساره ميشود .

مادهٔ بيستم :

شخصيکه لوحهٔ تبليغی مربوطهٔ شاروالی را عمداً تلف سازد ، مکلف است لوحه را تجديد نمايد .

مادهٔ بيست ويکم :

مالکين ومسکونين سرای ها آپارتمان ها ، حمام ها ، و تعميراتيکه در ساحات مقابل ملکيت خويش کثافات را بياندازد و يا آب های کثيف را جريان دهد وباعث خرابی وضع تنظيف و اذيت مردم شوند، مکلف اند به مصرف خود کثافات و مجرای کثافات را پاک کاری نمايند .

مادهٔ بيست ودوم :

مالک سرای ، آپارتمان ، و تعميريکه چاههای‌بدرفت‌يابيت‌الخلاءهای‌مربوط خودرا بوقت معين تخليه نکندو



تاکلي وخت تخليه نکړي اود سيمې د تنظيف د وضعې د خرابۍ او دښاريانودشکايت باعث وګرځي مکلف‌دی‌چې‌په خپل‌مصرف‌هغه‌تخليه‌کړي اوبرسيره پردې تأديب هم شي.

دروېشتمه ماده :

هغه اشخاص چې د ښاروالۍ له اجازې پرته د سړکونواو پياده رونو په کيندلو لاس پورې کړي،د زيان په جبران کولو مکلف دي او برسيره پردې دي تأديب هم شي.

څلور ويشتمه ماده :

په دغه فصل کې درج شوې تأديب د سرغړونکي لخوا د زيان د جبران او ورکړې مانع نه ګرځي .

پنځم فصل

وروستنې حکمونه

پنځه ويشتمه ماده :

د ښار او سيمو دنظافت د ساتنې په منظور مختلف صنفونه مکلف دي‌چې خپل ورځنې فعاليتونه په هغو سيمو کې

باعث خرابی وضع تنظيف منطقه و شکايت همشهريان گردد، مکلف است آنها را به مصرف خود تخليه نمايد و علاوتاً تأديب نيز گردد .

مادهٔ بيست و سوم :

اشخاصيکه بدون اجازهٔ شاروالی به کندن سرکها و پياده روها اقدام نمايند ، مکلف به جبران خساره بوده وعلاوتاً تأديب نيز گردند .

مادهٔ بيست و چهارم :

تأديب مندرج اين فصل مانع تأديه و جبران خساره از طرف متخلف نمی گردد.

فصل پنجم

احکام نهائی

مادهٔ بيست وپنجم :

اصناف مختلف به منظور حفظ نظافت شهر و محلات مکلف اند فعاليت روزمرهٔ خود را در محلاتی

تنظیم کړی چی د ښاروالی لخوا تاکل کیږی .

**شپږویشتمه ماده :**

که چیری ښاروالی ددغی مقرری په څلورم فصل کی ددرج شویو سرغړونکو عمل جرم وګڼی او اړول شوی زیان د ډیر اهمیت وړوی مکلفه ده چی له موضوع څخه اړوندو امنیتی موظفینوته خبروركړی.

**او ه ویشتمه ماده :**

دغه مقرره له توشیح وروسته نافذه او په رسمی جریده کی دی خپره شی ددغي مقرري په نافذیدو سره د ۱۳٦۹ه.ش کال د ثور د میاشتی د (۳۱) نیتی په ( ۷۱٦ ) ګڼه رسمی جریده کی خپره شوی د تنظیف او سرسبزی مقرره لغوه ګڼل کیږی .

تنظیم نمایند که از طرف شاروالی تعین میشود .

**مادهٔ بیست وششم :**

هرګاه شاروالی عمل متخلفین مندرج فصل چهارم این مقرره را جرم تلقی نماید و خسارهٔ وارده قابل اهمیت بیشتر باشد ، مکلف است موضوع را به موظفین امنیتی اطلاع دهد .

**مادهٔ بیست و هفتم :**

این مقرره بعد از توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر ګردد با انفاذ آن مقررهٔ تنظیف و سرسبزی شهر ها منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۷۱٦) مؤرخ (۳۱) ثور ۱۳٦۹ه.ش ملغی شمرده میشود.

# د صفائي د محصول مقرره

2nd part
ISSUE 794 year 2000

دصفائی د محصول مقرره

لومړی فصل

عمومي حکمونه

**لومړی ماده :**

دغه مقرره د ښاری خدمتونو دمحصول دقانون د(١٦)مادی له حکم سره سم دعامه مصالحو دتأمینولو په غرض د ښاروالی دصفائی د محصول د اندازې د ټاکنی په مقصد وضع شویده .

**دوه یمه ماده :**

دصفائی محصول: هغه ټاکلي نقدي وجوه دي چي هرکال دښاري خدمتونو دترسره کولوپه وړاندي د دغي مقررې له حکمونوسره سم له حقیقي اوحکمي اشخاصونه په لاندینیو شرائطو اخیستل کیږي :

١- په هغه صورت کي چي بیت المال ئی له ورکولو نه عاجز وي .

٢- محصول دکفایت او حاجت درفع کیدو په اندازه وي .

٣ - دمحصول ورکول دخلکو په وسه کي

مقررهٔ محصول صفائی

فصل اول

احکام عمومي

**مادهٔ اول :**

این مقرره به تأسی از حکم مادهٔ(١٦) قانون محصول خدمات شهری به منظور تعین اندازهٔ محصول صفائی شاروالی غرض تأمین مصالح عامه وضع گردیده است .

**مادهٔ دوم :**

محصول صفائی: وجوه نقدی معینی است که همه ساله در برابر انجام خدمات شهری مطابق احکام این مقرره از اشخاص حقیقی وحکمی تحت شرائط ذیل اخذ میگردد :

١- در صورتیکه بیت المال از پرداخت آن عاجز باشد .

٢- محصول به اندازهٔ کفایت ورفع حاجت باشد .

٣- پرداخت محصول در توان مردم

وي او دهغوي دخوريدو باعث نه شي.

۴- راټول شوي محصول دي له خپلو موردونونه پرته نه مصرفيږی.

**دريمه ماده :**

ښاروالي د دغو خدمتونو په تر سره کولو مکلفه ده :

۱-دښارپه سړکونو باندي قير اچول رويه کشي، ترميمول داغ ګيري، کرېږ اچول او د ښار دواتونو روښانول .

۲- دښار دسړکونو د دواړو غاړو دويالو ، پليو لارو او نورو برخو جوړول، تخليه کول او پاکول .

۳- په تم ځايونو کي دچترونو (سايه بانونو) جوړول .

۴- دعمومي بڼونو (پارکونو) او شنو ساحو ښکلي کول او دترافيکي څراغونو ساتنه او څارنه .

۵- دعمومي مبرزونو جوړول او دهغو ساتنه او څارنه .

٦- دښاري او اطرافي وسائطو لپاره دتم ځايونو (پارکنګونو) جوړول .

بوده،باعث اذيت شان نگردد .

۴- محصول جمع آوری شده در غير موارد آن مصرف نشود .

**مادهٔ سوم :**

شاروالی مکلف به انجام خدمات ذيل می باشد :

۱-قيرريزي، رويه کشی ترميم ، داغگيری جغل اندازی وتنوير سرک های شهر.

۲- احداث، تخليه، و تنظيف جوی ها و پياده رو های دوجناح سرکهاوسائرنقاط شهر.

۳- اعمار سايه بانها در تو قفگاه ها.

۴- تزئين باغ (پارک) های عمومی ساحات سبز وحفظ ومراقبت چراغهای ترافيکی .

۵- اعمار مبرزهای عمومی و حفظ و مراقبت آن .

٦- ايجاد توقفگاه (پارکنگ) ها برای وسائط شهری واطرافی .



۷- د مجهول الهويه مړو ښخول .

۸- له ښارنه بهر ته داو بلنو او جامدو کثافاتو ليږدونه.

۹- له ګرځندو او دوره ګردو پلورونکو نه دپليو لارو، عمومي بڼونو واټونو او دتم ځايونو خالي کول .

۱۰-دښارپه ناحيو کي مړو ته دغسل ورکولو لپاره دغسل خانو جوړول.

۱۱- دښاري حمامونو او غسل خانو دجوړولو لپاره د ځايونو ټاکل .

۱۲- د مقبرو (حضيرو) لپاره دځايونو ټاکنه او دفاتحي اخيستلو د ځايونو (سالونونو)جوړول اودهغوساتنه اوڅارنه.

۱۳- هغو سيندونو او ويالو ته داستنادي ديوالونو جوړول چي د ښار په ساحه کي بهيږي .

۱۴- په ښار کي دننه دپلونو او پلچکونو جوړول او ترميمول .

**څلورمه ماده :**

دحقيقي او حکمي اشخاصو له غير منقولو جايدادونوڅخه د صفائی

۷- دفن اجساد مجهول الهويه .

۸- انتقال کثافات مائع و جامد به خارج شهر .

۹-تخليهٔ پياده روها، باغهای عمومی جاده ها وايستگاه هااز وجود فروشنده گان سيارودوره گرد.

۱۰- اعمار غسل خانه ها برای غسل اموات درنواحی شهر .

۱۱- تعين محل برای اعمارحمام ها وغسل خانه های شهری .

۱۲ - تعين محل برای مقبره (حضيره)هاواعمارمحل(سالون) های فاتحه خوانی وحفظ ومراقبت ازآن .

۱۳- اعمار ديوار استنادی به دريا ها و جوی هائيکه در داخل ساحهٔ شهر جريان دارد .

۱۴- ترميم و اعمار پل و پلچک های داخل شهر .

**مادهٔ چهارم :**

محصول صفائی از جايداد های غير منقول اشخاص حقيقی و حکمی به

محصول د دغې مقررې د بیو د ټاکنې د ضمیمه جدول له مخې په لاندې ډول اخیستل کیږي :

۱- داستوګنې د کورونو له ټولې بیې نه په سلو کې صفراعشاریه درې (۳ر۰) .

۲- دامارتي،ادارو دودانیو له ټولې بیې نه په سلو کې صفر اعشاریه شپږ (۶ر۰).

۳- د تولیدي او صنعتي ودانیو له ټولې بیې نه په سلو کې یو (۱) .

۴- دتجارتي ودانیو له ټولې بیې نه په سلو کې صفراعشاریه پنځه اویا (۷۵ر۰)

**پنځمه ماده :**

ددغې مقررې په څلورمه ماده کې درج شوي اشخاص مکلف دي د خپل ملکیت دصفائي محصول دښاروالي په مخصوص حساب کي بانک ته تحویل کړي.

**شپږمه ماده :**

(۱) ددغې مقررې په څلورمه ماده کې درج شوي دبیو دټاکنې جدول، د ښاروالۍ له لوري دمالیي او فوائد عامې وزارتونو په موافقه ترتیب او د وزیرانو شورې له منظورۍ وروسته دتطبیق وړ دی .

اساس جدول قیمت گذاری منضمهٔ این مقرره طور ذیل اخذ میگردد :

۱- منازل رهایشی از مجموع قیمت صفر اعشاریه سه (۳ر۰) فیصد .

۲- ساختمان های ادارات امارتی از مجموع قیمت، صفر اعشاریه شش (۶ر۰) فیصد.

۳- ساختمانهای تولیدی وصنعتی ،از مجموع قیمت (۱) فیصد .

۴- ساختمانهای تجارتی از مجموع قیمت صفر اعشاریه هفتادوپنج (۷۵ر۰) فیصد .

**مادهٔ پنجم :**

اشخاص مندرج مادهٔ چهارم این مقرره مکلف اند محصول صفائی ملکیت خودرا به حساب مخصوص شاروالي تحویل بانک نمایند .

**مادهٔ ششم :**

(۱) جدول قیمت گذاری مندرج مادهٔ چهارم این مقرره از طرف شاروالی بموافقهٔ وزارت های مالیه و فوائد عامه ترتیب و بعد از منظوری شورای وزیران قابل تطبیق میباشد .



(۲) د دغې مادې په لومړۍ فقره کې درج شوي د بیو د ټاکنې جدول یوازې د ملکیت دلیږدونې او یا دحقیقي اوحکمي اشخاصو د ملکیت دساختمان په ډول کې د بدلون په وخت کې د تطبیق وړدی .

**اوومه ماده :**

د هغو اشخاصو د استوګنې د کورونو د صفائي محصول چې رسمي سند ونه لري ،بیې ئې د عرفي سندونو له مخې ټاکل کیږي او د اړوندې ناحیې په موقت دفتر کې له ثبت وروسته ددغې مقررې په څلورمه ماده کې له درج شوي حکم سره سم اخیستل کیږي.

**اتمه ماده :**

که چیرې د حقیقي او حکمي اشخاصو ملکیت، د اړوندې ناحیې په دفتر کې نه وي ثبت شوي ، دغه شان ملکیت د اړوندي ناحیې په دفتر کې له ثبت وروسته، د نقشې د صادریدو او د شرط پاڼې د برابریدو له نیټې نه د صفائي د محصول تابع بلل کیږي .

(۲) جدول قیمت گذاری مندرج فقره (۱) این ماده، صرف حین انتقال ملکیت و یا تغییر در نوعیت ساختمان ملکیت اشخاص حقیقی و حکمی قابل تطبیق میباشد .

**مادهٔ هفتم :**

محصول صفائی منازل رهایشی اشخاصیکه سند رسمی نداشته باشند بروبت اسناد عرفی قیمت گذاری گردیده، بعد از ثبت در دفتر مؤقت ناحیهٔ مربوط مطابق حکم مندرج مادهٔ چهارم این مقرره اخذ میگردد .

**مادهٔ هشتم :**

